# د ملي ادب او ژورنالیزم
# خادم

د استاد مولانا قیام الدین خادم د ۲۹ تلین په باب


لیکوال

سرمحقق عبدالله بختانی خدمتگار



دریم چاپ

وږی ۱۳۸۷ ل ، (اګست ۲۰۰۸)

## کتاب بنود

د کتاب نوم: د ملي ادب او ژورنالېزم خادم
لیکوال: سر محقق عبدالله بختانی خدمتگار
لومړی چاپ:
خپرونکی: د افغانستان د ژورنالیستانو اتحادیه
(د استاد خادم د مړینې د لسم تلین په مناسبت)
د چاپ نېټه: ۱۳۲۸ هـ ش
چاپ څاره: ملیحه توده یي.
چاپ ځای: دولتي مطبعه، کابل.
دویم چاپ:
خپروونکی: د افغانستان د قلم ټولنه او ګویته انستیتوت
(د افغانستان د معاصرو ادبیاتو د څلورم جشن په مناسبت)
چاپ څار: حاجي محمد حسن (حسام).
د چاپ نېټه: ۱۳۸۲ هـ ش – ۲۰۰۷ م.
چاپ ځای: افغان مسلکي مطبعه، کابل.

## دريم چاپ

د کتاب نوم: د ملي ادب او ژورنالېزم خادم
(د استاد خادم د مړينې د ۲۹ تلين په مناسبت)
خپرندوی: روښان ((خادم))، تورپېکی ((خادم)) سنګين
د چاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه
مهتمم: روښان (خادم)
چاپ نېټه: وږی ۱۳۸۷ل، اګست ۲۰۰۸ م.
کمپوز او ډيزاين: عبدالهادي (اثر) ۰۷۷۲۱۲۰۷۰۳
مطبعه: شمشاد (سايي) مطبعه جلال آباد ښار، افغانستان
۰۷۸۲۰۲۰۱۲۰ - ۰۷۵۲۰۱۳۱۵۰

# اهــــداء

پخپله زما ګران استاد :

مولانا قیام الدین خادم ته

په درناوی

( خدمتګار)

# فهرست


مضمون — مخ

استاد قیام الدین ........................ ۱

تعارف ........................ ۳

کورنۍ او زېږېدنه ........................ ۵

ابتدائي تعلیم ........................ ۱۱

د ژوند په څاریځه کښې ........................ ۱۷

لومړني شعرونه او د ټولنیزې مفاهمې وسایل ........ ۲۲

د کندهار په ادبي انجمن کښې خادم صاحب ........ ۲۲

په پښتو ټولنه کښې د «زېري» ........................ ۲۷

د کابل کالنۍ په غېږ کښې ........................ ۲۹

پښتونولي ........................ ۲۹

د پښتو نثني لیکوال ........................ ۳۰

د پښتو د نثر تاریخي ........................ ۳۱

د کوچنیانو اخلاقي پالنه ........................ ۳۲

اصحاب کرام ........................ ۳۲

نوی ژوندون ........................ ۳۳

په «پښتانه شعراء» کښې ........................ ۳۳
اتحاد مشرقي مدير ........................ ۳۴
بيا پښتو ټولنه ........................ ۳۶
روهي ګلونه ........................ ۳۷
د طلوع افغان چلوونکی ........................ ۴۳
د استاد لومړنۍ شعري مجموعه ........................ ۴۴
د کابل مجلې چلوونکی ........................ ۴۴
د «اصلاح» د ورځپاڼې ........................ ۴۵
د شريف سرګذشت ........................ ۴۸
د مرغلرو امېل ........................ ۴۹
بايزيد روښان ........................ ۵۲
له «زېرې» سره مرسته ........................ ۵۴
پښتو تدريسات او زيری ........................ ۵۵
په پښتو ټولنه کښې ........................ ۵۷
خيالي دنيا ........................ ۵۹
نبوغ او عبقري ........................ ۶۰
د «هېواد» ورځپاڼې مسئول مدير ........................ ۶۴
مکارم الاخلاق ........................ ۶۵

نوې رڼا ........................................ ۶۸
په شورا کښې ........................................ ۷۰
د شعرونو نوې ګېډۍ ........................................ ۷۱
افغان ملت او افغان ولس ........................................ ۷۵
د ژوند وروستي کلونه ........................................ ۸۰
پښتو پټۍ، لرغوني پښتانه قومونه ........................................ ۸۱
نور کتابونه، بند ........................................ ۸۲
مړينه ........................................ ۸۴
د استاد يادونه او نمانځنه ........................................ ۸۵
استاد خادم د هېواد د پوهانو په نظر کښې ........................................ ۸۸
ان اثار ناتدل علينا ........................................ ۹۰
استاد خادم د بهرنيو پوهانو په نظر کښې ........................................ ۹۱
د دوکتور ګيرس ليکنه ........................................ ۹۲
قيام الدين خادم ........................................ ۹۲
د استاد د اثارو ببلګې ........................................ ۱۰۲
د اخبار وظيفه ........................................ ۱۰۷
بدې ........................................ ۱۱۳
خير خيريت دی ........................................ ۱۱۷

طلايي زنځير ............................................ ۱۲۰
د ښاغلي غبار په ياد ......................................... ۱۲۲
د ښکلاوو جهان ............................................. ۱۲۴
د خلکو خدمتګار ............................................ ۱۲۹
خان بابا عبدالغفار خان ....................................... ۱۳۲
له يوې اوږدې منظومې څخه څو بنده .............................. ۱۳۴
غزل ...................................................... ۱۳۶
غزل دري .................................................. ۱۳۷
غزل ...................................................... ۱۳۸
د ليکوال پوښتنو ته د استاد خادم ځوابونه ......................... ۱۳۹

## د دریم چاپ لپاره:

# د لیکوال یادونه

د افغانستان د ژورنالستانو اتحادیې په پرلپسې توګه د هېواد د مخکښو مشرانو، ژورنالستانو د پېژندنې په باره کښې ځانله، ځانله رسالې خپرولې.

د ۱۳۲۸ هـ ش کال په پسرلي کښې یې له ما څخه وغوښتل چه د دوو لیکوالو ژورنالستانو: استاد قیام الدین خادم او استاد ګل پاچا الفت بیوګرافي ولیکم او په ټاکلي وخت یې وروسپارم.

وخت کم ؤ، ما په منډه د استاد خادم په ارتباط دا رساله ولیکله، مګر د دواړو رسالو ټاکلی وخت تېر شو. اتحادیې دا رساله چاپ کړه او هغه بله بل فرصت ته پاتې شوه.

د رسالې چاپ د (مونو ټایپ) په وړو حروفو ؤ. په اخباري رژیدونکي کاغذ، ځینې تورې یې الوتي وو. ښېګڼه یې دا وه چه دومره چاپي تېروتنې یې نه درلودې چه زما حساسیت راوپاروي.

یو څه نسخې یې توزیع شوې، یو څه یې د پاچا ګردشیو جګړو په شرایطو کښې ایسته را ایسته شو، نه پوهېږم څه شوې؟

زه هر وخت هیله من وم چه که وشي ورباندې یو څه نور کار هم وکړم او بیا یې چاپ کړم.

کاغذ چاپ شوی ؤ ، خو یوه څه چاپي تېروتنې يې لرلې چه د هغې په عذر کښې مې ورته سمون لیک جوړ کړ.
کتاب په جشن کښې توزیع شو ، خو غوښتونکي يې لاغواړي. خوشاله یم چه اوس د استاد خادم د تلین د نمانځنغونډې لپاره د استاد زوی روښان خادم او لور توریکۍ خادم «سنګین» یې بیا چاپوي. زه ددوی او د لومړي او دوهم چاپ د خپروونکو مننذوی یم.
دا ځل ما وکولای شوای چه د استاد په ارتباط ځینی نوري نکتې هم ورزیاتې کړم. ښایې چه بې د چاپي تېروتنو چاپ شي، البته د استاد پوره پېژندنه زیات کار غواړي چه په دې برخه کښې ځوانو څېړندویانو ته مو سترګې اوړي.

په همدې هیله
ستاسو خدمتګار
عبدالله «بختانی»
کابل خیر خانه
۱۳۸۷ د سرطان ( ۳۰ ) مه

## د دويم چاپ لپاره د خدمتګار يادونه

د پاخه عمر او پوخ فکر ، د پاخه نظم او پوخ نثر خاوند استاد قيام الدين خادم زمونږ د هېواد لوی ادبي او علمي شخصيت تېر شوی دی .

د هغه د ژوندانه او اثارو د پېژندنې لپاره لږ څه ليکل شوي او ډېر څه ليکل په کار دي .

دا وړه رساله ما په لنډ تنګ وخت کښې ليکلې ده . دا هم غنيمت دی چه بيا چاپيږي . زه د دې لامله د قلم تولنې څخه مننه کوم او دا کار د استاد د معرفۍ اغاز ګڼم .

زما قلم د استاد له نظم او نثر څخه رنګ اخيستی دی او زما ذهن د هغه له تفکر څخه رڼا .

خو زه نه يم توانېدلی چه د خپل استاد حق پوره ادا کړم . له ما نه پوره نه شوه ، ځوان او ادبي څېړنکاران کولی شي چه په دې لاره يون وکړي . کېدی شي چه د علومو اکاډمي يا د ادبياتو پوهنځي د کومې لوړې علمي درجې لپاره دا کار خپل کوم غړي ته د علمي پروژې په توګه وسپاري . الله پاک دې زما پر استاد ورحمېږي .

امين

سر محقق عبدالله بختانی خدمتګار

کابل – خير خانه د ۱۳۸۲ د ميزان ۱۵ مه

تېر کال د قلم نړۍ والي ټولنې په ملاتړ د افغانستان د ادبیاتو
ځلورم نوبتي جشن په ننګرهار کښې جوړېده . ددې جشن د
دود لـه مـخ بایـد د جشـن یـوه ځېړنیـزه غونـډه د هېـواد د یـو
مشهور منلي ادبي شخصیت په باره کښې وای .
د جشن د تدارک او انسجام په یوه غونډه کښې زما په وړاندیز
دغه شخص مشخص شو . نورو ملګرو وړاندیز درلود چه د
هغه د ژوندانه او اثارو په باره کښې یوه رساله یا کتاب هم
چاپ او په جشن کښې خپور شي ، نو ومنل شو چه زما هماغه
رساله دوهم ځل چاپ شي ، غوړي لاغوړ او نور علی نور شو .
ما بیا په منډه ، منډه د رسالې یوه نسخه له نظره تېره کړه او
دوی ته مې وسپارله ، زه په خپله اروپا تـه روان وم . په جرمني
کښـې د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې بللی وم چه د نوي
افغانستان د ۲۲۰ کالیزې د نمانځنې په جشن کښې برخه
واخلم او په څېړن غونډه کښې د قاضي عطاء الله خان او د هغه
(د پښتنو تاریخ) نومي کتاب په باره کښې وغږېږم ولاړم هلته
په بلجیم او جرمني کښې درې نورې دغسې څېړن غونډې وې
هره هفته یوه غونډه په هغو کښې هم زه باید حاضر وای او څه
مې ویلی وای ، نو د میاشتنۍ ویزې ورځې پوره شوې چه بېرته
راستون شوم کتاب په ډېر ښکلي طباعت او صحافت په اعلی

## استاد قيام الدين خادم :

د زېري، اتحاد مشرقي، کابل مجلې، طلوع افغان، هېواد، اصلاح او افغان اولس مسئول مدير ؤ.

استاد قيام الدين خادم زمونږ د هېواد مشهور، پوه ليکوال، شاعر، ژورنالېست او اجتماعي شخصيت ؤ.

هغه د خپل ژوند په مختلفو دورو کښې د زېري، اتحاد مشرقي او افغان اولس د جريدو د کابل مجلې او د طلوع افغان، اصلاح او هېواد د ورځپاڼو مسئول مدير پاته شوی او زمونږ د لرغوني تاريخي هېواد له مجلو، جريدو، ورځپاڼو او راډيو سره يې پرله پسې قلمي همکاري کړې ده.

سر بېره پر نورو فضايلو هغه حق لري چه د هېواد د ژورنالېزم د سابقه لرونکو خدمتګارانو په لړ کښې يې په قدر او نمانځنې سره يادونه او نمانځنه وشي.

څرنګه چه د ۱۳۲۲ نه تر ۱۳۵۸ هـ ش کاله پورې د استاد خادم سره زما دایمي، شعوري او منظم ارتباط، دوستي او ملګرتیا وه او سربېره پر دې هغه زما د ادبي لارې یو حقدار استاد و، نو ځکه زه په ډېر ویاړ د هغوی دا لنډه پېژندنه لیکم او د افغانستان د جمهوریت د ژورنالستانو نوي نسل د هېواد د یو پاخه ژورنالست د ژوند مختلفو اړخونو، د هغه صلاحیتونو او خدمتونو سره آشنا کوم.

ستاسو خدمتګار
عبدالله بختاني
کابل د ۱۳۶۷ د حمل ۲۲ مه

# تعارف

(۱)

د پلار د پلار له خوا نمسی د میا عمر یمه زه
د پلار د مور نه د اخوند بابا پسر یمه زه
مور مې له پلاره د فقیر صاحب نسب ته رسي
د مور له موره د خواجه احرار ځیګر یمه زه

(۲)

د میا عمر صاحب زیارت په څمکنیو کښې دی
فقیر صاحب د کامې بره خوا ښخیو کښې دی
اخوند بابا دی په کونړ ، خواجه احرار په هرات
((خادم)) د دغه صاحبانو په نمسیو کښې دی

(۳)

فقیر صاحب عبدالرحمان سیلانې یادېږي
دده فرزند صاحبزاده مراد علي یادېږي
په پښتنو کښې میا عمر دی په ربتیا منلی
دده فرزند او خلیفه ((محمدي)) یادېږي

(۴)

محمـــدي صاحبـزاده ؤ لـوی شاعـر د پښتـــو
مـراد عـالـي صـاحبـزاده ؤ مفسـر د پښتـــو
د پلار و مـوره میـراثه رالـــه پښتـــو پـاتـه ده
خـادم به ونه منـي هیڅکلـــه منکـر د پښتـــو

(۵)

یمه خـادم کلـه مـې ځـان ته سیـلاني ویلـی
کله مې ځان په احـراري میـا عمـري ښـوولـی
پلار مې د شکې په زاخېلو کښې خاړپوڅي کړي
په دې لحـاظ مـې کلـه ځـان په زاخیلـي بللی
د علم و فقر په زانګـو کښـې زنګېـدلـی یمـه
لـه ابتـدا نـه پـه دې لاره بـانـدې تللـی یمــه

# کورنۍ او زیږېدنه

قیام الدین خادم د ملا حسام الدین زوی او د ملا علي ګل آخوند زاده لمسی دی. دی پخپله لیکي: «زما د پلار پلار او دا رنګه زمونږ وړاندې سلسله ټول د خپل وخت د مروجه تعلیم په اساس تعلیمیافته او عالمان وو، زمونږ په سلسله کښې ناخوانه سړی نه دی تېر شوی، مونږ د پلار له خوا د کونړ د شګې د آخوند زادګانو څخه یو.

د شګې خلک په قام زاخېل دي چه د مومندو پښتنو یو قام دی. مګر ما د خپل پلار څخه مکرر دا اورېدلي دي چه زمونږ وړاندې نیکه د څوکنو میا عمر صاحب دی. دغه ده چه زما د نامه سره په اخبارونو کښې کله «کاموي» او «زاخېلی» او کله «میاعمرزی» لیکل شوي، ولې زما خپل تخلص «خادم» دی. کله کله مې د خپل نامه سره «سیلانی» هم لیکلی دی ځکه چه زما مورنی نیکه سید عبدالرحمن سیلاني نومېده چه فقیر صاحب یې بولي.» (۱)

---

(۱) عبدالروف بینوا – اوسني لیکوال – لومړی ټوک - کابل ۱۳۴۰ هـ ش
په دې ماخذ کښې مؤلف د استاد خادم د سوانحو په باره کښې د هغه خپله لیکنه راوړې ده، چه د مؤلف په غوښتنه دغه کتاب لپاره استاد په خپله لیکلې ده، دلته مونږ مخکښې هم د همدې لیکنې نه اقتباسونه کوو.

د استاد خادم د نسب په دې لړۍ کښې د ځینو سترو عالمانو مولفانو او روحانیانو نومونه لولو. مثلاً:
د څوکنو میاعمر چه پوره نوم یې د څمکنو میا محمد عمر دی ،هغه د محمد ابراهیم زوی د کلا خان لمسی په ختیه موسی زی ترکلاني سرېن دی چه د ۱۰۸۲ هـ ق په شا وخوا د هند په فرید آباد کښې زېږېدلی او د ۱۱۹۰ هـ ق د رجب په اوله په څمکنو کښې وفات شوی دی. هغه د خپل وخت د دیني علومو لوی عالم او ستر روحاني پېشوا و چه احمد شاه بابا یې له مریدانو څخه و. هغه خپل ټول ژوند د خلکو په روحاني تربیه، تصنیف،تالیف او تدریس تېر کړی.
په پښتو، فارسي او عربي کښې یې ډېر تالیفات کړي. د پښتو ژبې شاعر هم ؤ (۱) ،د هغه زوی محمدي صاحبزاده (۲) د پښتو ښه شاعر و او د خپل پلار په جومات او مدرسه کښې له هغه نه په راپاته شوي میراث یوه مکتبه جوړه کړه چه هلته د ښو خطاطانو په ذریعه د پښتو ادبي آثار لیکل

(۱) د څوکنو د میا عمر صاحب په باره کښې وګورئ:
عبدالله بختاني - پښتانه شعرا څلورم ټوک - کابل - ۱۳۵۷ هـ ش ، پوهاند عبدالشکور رشاد - د څمکنو میاعمر - کابل ۱۳۲۰ هـ ش
(۲) د محمدي صاحبزاده په باره کښې وګورئ: پښتانه شعراء - لومړی ټوک - کابل ۱۳۲۰ هـ ش ، د نوموړي دیوان او د هغه مقدمه د پېښور چاپ

کېدل او خپرېدل ، دا د هغه وخت د لیکلو او خپرولو یوه ارزښتمنه موسسه وه چه د هغې په برکت د پښتو د لویو شاعرانو: رحمن بابا ، یونس، شیدا او نورو ارزښتمن آثار مونږ پورې رارسېدلي دي .
قدوة السالکین حضرت عبدالرحمن السیلاني مشهور په فقیر صاحب د افغانستان د فخریو مقدس او روحاني عالم تېر شوی دی (۱) د ده مزار د ننګرهار په کامه کښې دی او د فقیر صاحب د ورثه و په نامه هلته یوه قریه شته چه اکثر اوسېدونکي یې د فقیر صاحب اولاده دي. په دوی کښې مراد علی صاحبزاده (۱۲۲۰ - ۱۲۹۷ هـ ق) لوی عالم، مفسر، لیکوال او شاعر و چه «تفسیر یسیر» په نامه د قران شریف تفسیر یې په ساده پښتو ژبه لیکلی او زیات شهرت لري (۲) مولوي احمد الله د پښتو بل شاعر د

(۱) سراج الدین سعید او مولوي صالح محمد - د څېړندوی بختاني خدمتګار په تدوین ، سریزه او یادداشتونو - تذکرة الشعراء کابل - ۱۳۲۲ هـ ش . باید ووایو چه په دې ماخذ کې د غه نوم د طباعت یا نقل د غلطۍ له مخه د (عبدالرحمن السیلاني) پر ځای (عبدالله جان سیلاني) چاپ شوی دی .
(۲) د مراد علي صاحبزاده د پېژندنې لپاره وګورئ:
پښتانه شعراء - دویم توک - کابل ۱۳۲۱ .
تذکرة الشعراء - ۲ - ۱۵۵ مخونه .
عبدالله بختاني - مراد علي صاحبزاده - کابل مجله د ۱۳۵۰ هـ ش د ثور ګڼه.

مـراد علـي صـاحبزاده وراره و (۱) و د کـامې د عالمـانو شاعرانو په دې کورنۍ کښې يو وخت په لاسي وسايلو او مسالو سپين کاغذ هم جوړېده د اوسني وخت تکړه مترجم او ژورنالسـت محمد يـونس مـراد (۲) او نومـوړی اولسـي شـاعران امـان الله عنـدليب (۳) اوسيد مراد مـين (۴) لـه همدې کورنۍ څخه دی.

قيـام الـدين خـادم د داسـې کورنيـو په غېږ کښـې، د ده د خپلې ليکنې لـه مخـه پـه ۱۳۲۵ هـ ق (۱۹۰۷ م) کـال پـه کامه کښې زېږېدلی دی.

ماشـومان پـه پنځـه يـا شپږ کلنۍ بانـدې پـه درس پيلـوي. خادم صاحب په کور کښې زيـات درس «د صـرف او نحـوې کتابونـه» ويلـي وو چـه بيـا يـې د علومـو د زده کـړې لپـاره «پنځلس کاله سفر وکړ» نو پـه دې حسـاب د ده د زده کـړو

(۱) پښتانه شعرا څلورم ټوک – ۸ – ۱۹۷ مخونه.

(۲) دی ډېر وخت د ننګرهار د ورځپـاڼې مسئول مـدير و، پـه دايرة المعـارف، باختر اژانس، راډيو او د خپرونو په نورو ځانګو کښې يې هم خدمت کړی دی. اوس د هېواد ورځپاڼې د پښتو ترجمې په څانګه کې کار کوي.

(۳) د دې شاعر د پېژندې لپاره وګورئ:
- اوسني ليکوال – دوهم ټوک – کابل ۱۳۴۱.

(۴) د دې شاعر د پېژندنې لپاره وګورئ:
اوسني ليکوال – دريم ټوک ۱۳۴۲.

ختم او د رسمي وظيفې (معلمۍ) پیل د خدائي خدمتګارۍ له جوړېدو سره په یو وخت کښې راځي.
داسې معلومېږي چه په شعر ویلو به یې له پخوا نه لاس پورې کړی وي مګر په غالب ګمان د (خادم) تخلص یې په همدې وختونو کښې ځانته غوره کړی دی. په دې وخت کښې مولوي محمد اکبر خادم د چارسدې مشهور خدائي خدمتګار او لوی شاعر ؤ. په دې برخه کښې یو ذهني ارتباط ښکاري.
زمونږ د هېواد، ګاونډیانو او نړۍ حالات څه چه وو هغه به وو. هغه هر څه دې په خپل ځای پاته وي او وبه ګورو چه خادم صاحب په دې وخت کښې چېرته و او څه یې کول؟

**ابتدايي تعليم:**

قيام الدين ماشوم و او په سبق يې لاس پورې کړ. کله؟ څنګه؟ چېرته؟ د دې پوښتنو د ځواب لپاره به د ده خپلې ليکنې ته مراجعه وکړو. دی ليکي: «له ورکوټوالي څخه زما والد، زما او زما د نورو ورونو په خواندګۍ کښې کوښښ کاوه. قران شريف او ځينې د نظم کتابونه ما د خپل والد څخه ولوست . »

بايد ووايو چه په هغه وخت کښې د نظم د کتابونو نه مطلب فارسي ادبيات او د انشاګانو کتابونه وو. پنج کتاب، تحفة النصايح، د سعدي ګلستان او بوستان او د حافظ ديوان ويل کېده او منتهي کسانو لا بهار دانش او کليله دمنه هم لوسته ، د دې په خوا کښې يې د خط ليکلو د زده کولو لپاره انشاګانې، کتاب کريم، دستورالصبيان، انشای دلکشا ، انشای هرکرن، انشای خليفه او انشای ترسل لوستل کېده .

ورسره خط به هم يادېده. دې ته يې «نظم» وايه او هغه ملا به چه د دغو کتابونو تدريس کاوه «ناظم» بلل کېده. خادم صاحب ځينې د نظم کتابونه وويل او خط يې هم زده کړ. هغه په دې باب ليکي:

« زما د خط سره ډېر شوق و. ما د خپل ځانه سره قلمونه، کاغذ او قسم قسم رنګونه ګرځول او تمامه ورځ به اخته وم. کوم وخت چه به راسره قلم او کاغذ نه و نو په ډکو باندې به مې په دېوالونو خط کاوه او پښتو، فارسي یا عربي عبارتونه به مې لیکل.

دا وه چه په لږه زما نه کښې زما پوره املا او خوشخطي زده شوه. زما پلار چه زما خط ته ملتفت شو نو زه د ډېر تحسین او آفرین مورد وګرځېدم. »

د خادم صاحب پلار به لږ څه د تشویق لپاره هم خپل زوی ته شابسي ورکړې وي، مګر رښتیا هم د خادم صاحب خط ډېر پوخ او ښکلی و او عادي خط یې هم د هنري خطونو په اندازه ښایسته و. عجیبه خبره داده چه دا د هنري خط په سویه ښکلی خط یې بې استاده زده کړی دی. دی لیکي:

« د خط په زده کړه هم د غسې بې استاده په خپل شوق لګیا وم، کوم وخت چه مې په ګلستان او بوستان او نورو پارسي کتابونو شروع وکړه نو څو میاشتې مې له استاد څخه هم خط وکړ. زما د خط د استاد نوم ملا خلیل ؤ. ما فقط د ده یوه سرنامه پخه کړه چه هغه تر اوسه ما ساتلې ده، تیول تیال به دا سرنامه پنځه کړښې وي. »

په هغه وخت کښې د نظم او خط استادانو به شاګردانو ته په يوه پاڼه کښې يو يا څو بيتونه يا يو مکتوب په ښه خط ليکه. دا «سرنامه» وه. شاګرد د هغې له مخه هغه څو ورځې څو څو ځله ليکله او د ورځې يو ځل به يې استاد ته ښودله. استاد به يې غلطۍ ورسمې کړې. کله به چه استاد مطمئن شو چه دا يې زده شو، نو بله سرنامه يې ورته ليکله. د سرنامې ښه او پوره زده کول د هغې پخول و. د سرنامې د پخولو نه وروسته خادم صاحب ليکي:

«تر دې وروسته ما د فقهې متون د « کنز » پورې وويل .»

دا د هغه وخت د فقهې مروج متون وو چه « خلاصه کيداني، منية المصلي، قدوري او کنز الدقايق» باندې شامل و. څينو کسانو به «مختصر الوقايه» هم ويله، تر دې وروسته بيا د فقهې درسي شرحې راتلې چه په هغه کښې: « مستخلص الحقايق، د کنز شرح » شرح الوقايه د مختصر شرح او «الهدايه» د قدوري شرح شاملې وې. داسې ښکاري چه خادم صاحب دا هر څه بل وخت ته پريښې دي او د خپل پلار په خوښه يې خپل درسي پروګرام چلولی دی، دی ليکي:

ما د خپل پلار د خولې نه اورېدلي ؤ مونږ ته به يې ويل چه:
«زه پـه تاسـو صـرف او نحـو اول وايـم بيـا د علومـو اصطلاحات درښيم، تاسو نور پخپله ملايان کېږئ.»
ښتيا هم دا په هغه وخت کښې ډېر ښه او موافق درسي متود و. ځکه چه ديني علوم په عربي ژبه وو. د ژبې د زده کړې لپاره صرف و نحو (ګرامر) اساسي ضرورت دی. له ګرامر سره به چه په درسونو کښې د علومو مبادي او اصطلاحات د چا زده شوو، نو د هغه سړي مطالعه جاري کېدله او په شروحو او حواشيو کښې په منډه روانېده.
خادم صاحب د خپل پوه او تجربه کار پلار دا ګټور متود منلی دی لکه چه وايي:
«زه د خپل پلار په تېره وينا چه اوس د ده د رحمت سيوری زمونږ د سرنه پورته شوی و د خپل يو بل استاد په معرفت د کونړ «بوډيالئ» ته د «صرف مير» د يادولو د پاره ولاړم.»
صرف مير د عربي صرف لومړنی درسي کتاب و. دا د عربي افعالو د مصدرونو، اشتقاقونو او وزنونو له مخه ګردانونه، اعلالونه او بېل بېل بابونه وو او د علم طالبانو به دا په يادو يادول. په دې کښې به د ځينو طالبانو په

میاشتو میاشتو څه چه دوه درې کاله هم تېر شوو، مګر د خادم صاحب لیکنه ده چه «دلته ما په یوه میاشت کښې اتلس بابه صرف میر یاد کړو او بیا کاله ته راغلم.»

«په کور کښې مې د صرف او نحوې کتابونه وویل... اوس نو زه د کامې نه علاوه د «لړه موړي، کنډي باغ، اګام، ارغچ، کیلغو، کابل، پېښور او داسې نورو ځایونو په درسونو ګرځېدلی یم... او د «حصارک» او «سرشاهي» په درسونو د ګرځېدلو نه پس کورته لاړم. څو چه د خپل صحت په خرابۍ پوه شوم، نو بیا راغلم کابل ته. د دې وخته پورې ما صرف، نحو، منطق، حکمت، کلام، فقه، تفسیر، حدیث، مناظره، اصول فقه او نور مروجه علوم لوستي و.

ما پنځلس کاله سفر وکړ. زیات د طبیعت د ناسازۍ او لږ د دې جهته چه زما تحصیل تر یوه حده ورسېد نو زه لاتر اوسه هلک وم چه د تدریس مقام ما ته په لاس نه شو راتلی، نو نا علاجه مې په نوکرۍ شروع کړه.»



## د ژوند په څلاريځه (۱) کښې

خادم صاحب درسونه وويل او مولوي شو. له شعر او ادب سره هم آشنا شو. لومړني شعرونه يې وليکل. د افغانستان په کليو او ښارونو کښې په درسي حلقو وگرځېد. په مدرسو کښې د ېره شو. د وخت توند بهير په تېره بيا په پښتونخوا او هند کښې د ملي آزادئ د نهضت د جلسو او جلوسونو، د اخبارونو، پوسټرونو او اشتهارونو تاثير يې په ذهن وشو. د استعمار گر پېرنگي، استعمار لاندې اولسونو موقف او تضاد ته يې پام واوښت. په خام عمر پوخ ملا شو. د سفرونو، ولږو، تندو او تنگسو او همدارنگه د درس د فشار په وجه ضرور به يې صحت خرابېده د ژوندانه او روزگار، غريبئ او پرېشانئ د کلي او اولس رقابتونه، سيالئ او هم چشمئ، کوژده او واده او په اوږو د ژوندانه درond پېټي هغه مختلف عيني او ذهني عوامل وو، چه مولوي قيام الدين خادم يې د ژوند په يوه څلاريځه ودراوه. ملاتې وکړي؟ قاضي او مفتي شي؟ مدرس او

(۱) د «چهار راهي، چوک» لپاره د څلور لاري عبارت ماته سم نه برېښي، زما په فکر «څلور لاريځه» سمه ده چه لنډون يې «څلاريځه» کېږي، په دې توگه زه د «چهار راهي» پر ځاى «څلاريځه» ليکم او پېشنهادوم.



ښاغلی دوريانکوف د ماسکو د پښتو اکادمۍ مشر د استاد خادم تر وينا وروسته د تبصرې په حال کښې .

ودراوه . ملاتي وکړي؟ قاضي او مفتي شي؟ مدرس او معلم شي؟ او په لسګونو نور سوالونه . دغه حالت ده پخپله «تردد» بللی او داسې ښودلی دی :
«اول وار زه په ۱۳۰۴ هـ ش کښې په کامه کښې د ابتدايي مکتب معلم مقرر شوم او بيا لې وروسته هندوستان ته لاړم او بيا په جلال اباد کښې معلم مقرر شوم . »
بايد په ياد ولرو چه ده ټول درس په جوماتونو او آزادو اولسي مدرسو کښې په پخواني سيستم ويلی و او لومړنی کار په رسمي ښوونځيو کښې د نوي عصري متود سره سم پروګرامو لاندې ورکړی شو.
خير په هر صورت د ده نه به واورو:
«په دې موده کښې زه سخت پرېشان وم او د پرېشانۍ اسباب مې ناجوړتيا وه. د تحصيل پرېښودل او د حيات په کار زار کښې داخلېدل و په دې وخت کښې زه د ژوندانه د يو سخت انقلاب په څپو کښې روان وم. ما د ځان د پاره کوم مسلک نه و خوښ کړی چه په همدغه مشغول شوی وای. د تعليم د دايرې راوتلی وم يا په بل عبارت د خپلې يوې خوږې او زړه پورې معشوقې نه په ناچارۍ بېل شوی

وم. په تیاره شپه کښې روان وم. لاړ رانه ورکه وه. نه پوهېدم چه چېرته ولاړ شم.»

داسې معلومیږي چه په سودا او اندېښنو، چرتونو او سوچونو، غم او تشویش او ځان سره پوښتنو ګروېږنو کړلو، رېبلو کښې د خوارۍ، غریبۍ ژوند او روزګار سره د علمي بحثونو مناظرو، درسونو او مطالعو نه د یو دم بېلېدو او د مکتب د معلمۍ په نا اشنا غوندې رسمي محیط کښې د ننوتو په وجه په ناروغ وجود باندې یې نور ناوړه تاثیر هم کیږي، پېښور ته ځي.

«د معالجې په نیت پېښور ته لاړم. په هغه حوزه کښې د کوهاټ په پورې وګرځېدم. بیا راغلم د لواړګي په یو کلي کښې مې اویا تنو هلکانو ته لیک لوست زده کاوه زه موفق شوم چه په درې میاشتو کښې هلک خوانند ه شپږو میاشتو کښې یې خوانند ه او نویسند ه کړم.»

معلومیږي چه د شاګردانو د خوانند ه او نویسند ه کولو لپاره یې هغه زور مېتود نه استعمالاوه چه کلونه غواړي. بلکه په خپل فکر یې داسې لاره ایستلې وه چه فقط شپږ میاشتې کفایت وکړي.

د دې لیکنې نه دا هم راوځي چه د ده د رنځورتیا علاج هم دغه وچه د خپل فکر او ذهن له رجحاناتو سره سم مشغول شي. هغه وشو. د پېښور په سیاسي فضا کښې وګرځېد او په لواړګي کښې د درسي نوې لار په را اېستلو او تطبیقولو کښې یې وخت ښه تېرېده او زړه یې ښه لګېدلی و. د پښتنو قبایلو د عنعنو په غېږ د ملي آزادۍ نهضت او خدایي خدمتګارۍ په سیاسي، اجتماعي فضا او پېښور، کوهاټ، خیبر او لواړګي په ادبي چاپیریال کښې د ده د ژوندانه لار هم تعینیږي. دی لیکي:

«زه تقریباً دوه کاله په لواړګي کښې وم. همدلته زما د شاعرۍ، نویسندګۍ او ادبیاتو مرموز ذوق انکشاف وکړ. همدلته وم چه کوزده مې وکړه او له همدې ځایه د ۱۳۱۲ هـ ش په آخر کښې د کندهار د پښتو ادبي انجمن په عضویت مقرر شوم او لاړم.»

باید ووایم چه ما پخپله د خادم صاحب نه اورېدلي دي چه هغه څه موده په باجوړ کښې هم تېره کړې ده او هلکانو ته یې سبقونه ویل او خط یې ورزده کاوه.



سنبله ۱۳۴۲

دغسې سندرې خو سندرغاړو ويلې او خلکو ته يې اورولې او د ټولنيزې مفاهمې وظيفه يې اجرا کوله. مګر خادم صاحب په عين حال کښې دې ته هم متوجه وچه د هغه دا شعر او داسې نور نور شعرونه، په اخبار کښې خپاره شي، د پښتنو به په کار شي او مسلمانان پرې خوښ شي. د خادم صاحب دا هيله په دې مصرع کښې ښکنده شوې ده:

«په اشتهار د مجاهد کښې انتشار شي»

د هغه وخت د خلکو په ژبه اشتهار د خپرونې، اخبار او پامفليټ په معنا و، او (مجاهد) د يو اخبار نوم و چه په هغه وخت کښې د آزادۍ د لېارې د مجاهدانو له خوا په چمرکنډ کښې خپرېده او د هغه وخت ادبي، ژورنالېستي ملي وظيفه يې په هر اړخيزه توګه اجرا کوله او د ملي آزادۍ په نهضت کښې يې برخه اخستله. خادم صاحب خپله شاعرۍ د پورته چهاربيتو نه دمخه پيله کړې ده. هغه ليکي:

«زما لومړنی نظم چه په اتحاد مشرقي کښې نشر شوی (شه بيدار پښتونه) نوميږي. زما ړومبی نثر چه هغه هم په اتحادمشرقي کښې نشر شوی دی، له اردو څخه يوه ترجمه ده چه د کار او صنعت په متعلق ده.



د باره ګلۍ هزاره ضلعې د پښتو سیمینار .۱۳۴۴ هـ ش
په عکس کې استاد خادم ، مولانا ارشاد ، مرحوم صدیق الله
رشتین لیدل کېږي

لري. دا کتاب د (پښتونولي) په نامه په ۱۳۳۱ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو.

**(۲) د پښتو ننني ليکوال**

دا د هغه زمانې د پښتو د ليکوالو او شاعرانو تذکره ده. د هر شاعر لنډه پېژندنه او د کلام نمونه پکښې راغلې ده. د استاد خادم دغه رساله د کابل کالنۍ د ۱۳۱۷ او ۱۳۱۸ هـ ش کال په ګڼو کښې خپره شوې ده. هو! خادم صاحب د هغه وخت د نورو ليکوالو بيوګرافۍ ليکلې وې خو د کالنۍ مسئول مدير سيد قاسم رښتيا بيا د نومووړي ليکوال، قيام الدين خادم بيوګرافي ليکلې ده او د هغه د کار په پای کښې خپره کړې ده.
زه فکر کوم چه دا د استاد خادم په شمول د پښتو د معاصرو ليکوالو لومړنۍ تذکره ده چه ابتکار يې استاد خادم ته راجع کېږي.

## (۳) د پښتو د نثر تاريخي تطورات او د نثر ليکونکو تذکره

دا د پښتو نثر يوه تاريخي پلټنه ده چه په هغې کښې د پښتو د پخوانو نثر ليکونکو پېژندنه هم شوې ده د استاد خادم دغه رساله د کابل کالنۍ د ۱۳۱۹ او ۱۳۲۰ هـ ش کال په ګڼو کښې خپره شوې ده.

په همدې زمانه کښې د پښتو تولنې له خوا، د پښتو شاعرانو د تذکرې ليکلو کار هم روان و تذکرة الشعرأ او د پښتانه شعراء لړۍ د هغه کارنتيجه او ادامه ده. داسې معلومېږي چه د هغه وخت داسې فکر و چه د شاعرانو ناظمانو د تذکرو بېله لړۍ وي او د نثر ليکونکو بېله ځکه نو دغه د نثر برخه استاد خادم ته رسېدلې وه. کاشکې له هماغه پيل نه د نظم او نثر د ليکوالو د تذکرې ليکلو په ګډه سلسله پيله شوې وای. ځکه چه د پښتو ادب او ليکوالۍ په دوارو خواوو کښې زيات کار شوی دی او زمونږ د پوهانو شاعرانو ليکوالو د فکر او هنر مرغلرې په دوارو لړيو کښې پيل شوې دي. که د دې دوارو خواوو تذکرې سره يو ځای وای نو د ادب د تاريخ د ليکوالو لپاره به کار آسان شوی وای .

### (۴) د کوچنیانو اخلاقي پالنه

استاد خادم دا رساله د هربرت سپنسر د یوې رسالې له اردو ترجمې څخه په پښتو ژبه ژباړلې ده. ځای په ځای یې خپل نظر ور زیات کړی دی. دا ترجمه په ۱۳۱۴ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده چه هم د پښتو ټولنې د خپرونواو هم داستاد خادم د چاپ شویو کتابونو لومړی لمبر اثر دی.

### (۵) اصحاب کرام

استاد خادم دغه ترجمه په ۱۳۱۲ هـ ش کښې بشپړه کړې ده. خطي نسخه یې په دوو ټوکونو کښې د افغانستان جمهوریت په ملي آرشیف کښې تر ۲۲ او ۲۵ نومرو لاندې خوندي ده. همدغه کتاب وروسته د استاد له خوا (لوی اصحابان) بللی شوی او د ۱۳۵۰ هـ ش کال په شا و خوا په پېښور کښې چاپ شوی دی.

دا د اسلام د پیغمبر حضرت محمد (ص) د لویو اصحابانو سیرة او تاریخ دی چه استاد خادم په ډېر دقت او علمي صلاحیت په خوږه روانه پښتو ترجمه کړی دی. که زه دلته

د یوې هیلې حق ولرم نو به ووایم چه کاش د دغه کتاب اکاډیمیک متن زمونږ د اسلامي تحقیقاتو د مرکز له خوا تیار او بیا چاپ شي.

(٦) نوی ژوندون

دا د استاد خادم د لنډو ادبي نثرونو مجموعه ده چه د پوهاند حبیبي د لیکنې سره سم «مضامین یې ډیر عصري او حیاتي او افکار یې د جدیدې تربیې د اساس سره سم دي.» د دې مجموعې په ځینو پارچو باندې د رابندرانات ټاګور او علامه اقبال د هنر او فکر اغیز لیدل کیږي د استاد خادم دغه مجموعه په ۱۳۲۰ هـ ش کال کښې د پښتو ټولنې له خوا چاپ او خپره شوه چه په هغه وخت کښې (او اوس هم) د پښتو ادب مینانو ته ښه تحفه وه او ده.

(۷) په «پښتانه شعراء» کښې د استاد برخه

«پښتانه شعرا» لومړی ټوک د پوهاند حبیبي له خوا او دوهم ټوک د پوهاند رښتین له خوا تدوین شوی او په ترتیب سره په ۱۳۲۰ او ۱۳۲۱ هـ ش کلونو کښې د پښتو

ټولنې له خوا چاپ شوی دی. د دې کتاب د تیارولو لپاره د هغه وخت د پښتو ټولنې غړو د خپلو معلوماتو او اسنادو له مخه د پښتو د تېرو شویو شاعرانو تذکرې لیکلې او بیا د هماغو لیکوالو په نومونو په کابل مجله کښې خپرېدلې. بیا د یو تن صلاحیت لرونکي لیکوال له خوا هغه تدوین کېدلې او له سریزې، فهرستونو، تعلیقاتو او نورو متعلقاتو سره د کتاب په ډول چاپېدلې.

د لومړي ټوک مدون لیکي: «ښاغلی قیام الدین خان خادم چه تر ټولو لومړی حق لري او د کتاب ډېرې برخې یې لیکلې او په پلټنو کښې یې زیار کښلی دی.»

په دې وخت کښې د دولت د مامورینو د پښتو کورسونو لپاره د (پښتو کلي) په نامه یوه درسي سلسله لیکلې کېدله او خپرېدله په دې کار کښې خادم صاحب هم د پښتو ټولنې د نورو غړو په شان پوره برخه اخستې ده.

(۸) د اتحاد مشرقي مدير

اتحاد مشرقي، زمونږ دهېواد یوه پخوانۍ جریده ده چه د هېواد د استقلال په لومړي کال ، د ۱۲۹۸ هـ ش کال په هډه کښې د ننګرهار او هغه پورې د نښتو سیمو د خلکو

قومونو او قبايلو د مشرانو نمايندګانو د يوې لوی جرګې په موقع، تاسيس شوې او په همدې معنا په (اتحاد مشرقي) نومولې شوې ده ، ډېر وروسته بيا دا نوم په (ننګرهار) واوښت.

استاد قيام الدين خادم په ۱۳۲۱ هـ ش کال د دغې جريدې مسئول مدير وټاکل شو او تر ۱۳۲۴ هـ ش پورې يې دې وظيفې ته دوام ورکړ.

دا جريده د مخه په پښتو او دري ژبو د ډېرو په ماشين خپرېدله. د استاد د مديريت په وخت يوازې په پښتو ژبه په حروفي ماشين خپره شوه په جريده کښې د شعر او ادب خپرونه زياته شوه اوپه ساده ژبه پخو مضامينو ته ځای ورکړی شو. په ډېرو دقيقو پيرايو کښې کله نا کله انتقادي ليکنې هم خپرېدلې او دا ليکنې زياتره د طنز په توګه پخپله د استاد خادم په قلم دي. لکه د «بلډې» تر عنوان لاندې ليکنه چه مونږ يې د دې ليکنې په پای کښې د استاد خادم د ليکنو په بيلګو کښې وړاندې کړو.

د استاد خادم د اتحاد مشرقي د مديريت وخت د دوهمې نړيوالې جګړې دوران ؤ.

زمونږ په هېواد کښې راډيو ګانې ښځې کمې وې او د کابل راديو د خپرونو وخت هم په شواروز کښې دوه درې ساعته و، جريدو او ورځپاڼو ته د لوستونکو کسانو ډېره تلوسه وه. د مرکز ورځپاڼې (اصلاح او انيس) په وړه قطع چاپېدلې او ولايتونو ته وروسته رسېدلې نو د ولايتونو د جريدو بازار نسبتاً تود و او د نړيوالې جګړې د پېښو د اجمال او په جريده کښې د ادبي طنزي ليکنو د خپرېدو په برکت د اتحاد مشرقي جريدې ښه مقبوليت درلود.

زه پخپله په دغه وخت کښې يو نوی ځوان طالب علم وم چه د خپرونو لوستو ته مې مخه شوې وه. زه د استاد قيام الدين خادم له نامه د هغه له شعرونو او ليکنو سره د (اتحاد مشرقي) د لوستو په واسطه د لومړي ځل لپاره آشنا شوم.

## بيا پښتو ټولنه

د ځينو شخصي مسايلو د اغېز له مخه استاد خادم په ۱۳۲۴هـ ش کال له ننګرهاره بېرته کابل ته تبديل او د پښتو ټولنې د دايرة المعارف د ترجمې مدير شو. دا هغه دايرةالمعارف دی چه بيا د (آريانا دايرة المعارف) په نامه

د څیړنې او خپرونې څانګه موسسه شوه. او د افغانستان د علومو اکاډمۍ له جوړېدو سره اکاډمۍ پورې مربوط شوه. استاد خادم دغلته د ۱۳۲۵ هـ ش تر دوهمې نیمايي پورې ؤ.

دۀ په دغه وخت کښې د دایرة المعارف یو زیات شمېر ارتیکلونه په پښتو اړولي چه د مترجم په حیث د ده په نامه چاپ شوي دي. سر بېره پر دې «روهي ګلونه» هم چاپ شو.

## روهي ګلونه

روهي ګلونه له بیتې نیکه نه نیولې د للمې تر ملا احمد ګله پورې د پښتو د پنځوسو تنو شاعرانو د شعرونو انتخابي مجموعه ده چه خادم صاحب د پښتو شعر د دومره پراخې او بډايې ذخیرې نه ضرور د ډېرې مودې په ترڅ کښې انتخاب او د موضوع له مخه په شپږو بابونو ترتیب او تدوین کړی ، چه هر باب یې څو فصلونه او هر فصل یې څانله څانله عنوانونه لري . د استاد خادم خبره څومره چه دا مجموعه یوه ادبي مجموعه ده او د ادب او شعر

د نزاکتونو او شهکاریو څخه ډکه ده هغومره د ژوند او زندګۍ د اسرار و خزانه هم ده . » (۱)
د استاد د دې ارزښتمن اثر متن د ۱۳۲۵ کال تر پايه چاپ شوی او په ۱۳۲۲ کال له چاپه وتلی او خپور شوی دی.
په دې کتاب استاد بېنوا يو لنډ تقريظ ليکلی او ورسره چاپ کړی دی چه دلته يې رانقلوو:
روهي ګلونه
هر طرف ته نو بهار دی غوړېدلي
سترګې وخوره چه به دا ننداره نه کا

(خوشحال بابا)
دا ښکلي ګلونه چه د ښاغلي خادم په زيار راغونډ شوي دي او د پښتو د ادب مينانو ته د سوغات په توګه وړاندې کيږي دا هغه ګلونه دي چه د پښتو د پخوانيو شاعرانو د زړه په وينو روزلی شوي دي.
څنګه چه تر اوسه پورې د پښتو ژبې په ادبياتو کښې داسې يو جامع منتخبات نه و او ښاغلی خادم چه د پښتو يو

(۱) د قيام الدين خادم تولونه – روهي ګلونه لومړی مخ .

پیاوړی ادیب دی په دې کار ګوتې پورې کړي او بریالی شوی دی، نو پښتو ټولنه دا خپله وظیفه ګڼي چه د دې فاضل د ستایلو وړ خدمت و ستایي او په دې انتخاب ده ته تبریک ووایي او هم په دې ګلونو سره د هغو پردیسانو روح ښاد او یاد کړي چه دوی به د خواږه وطن په بېلتون کښې ویل:

قاصدان له روهه نه راځي مدت شو
سلام باد را رسوي منت یې تم دی

او له خدایه غواړي چه داسې ډېر اثار پښتنو ته وړاندې کړي. عبدالروف بېنوا د پښتو ټولنې عمومي مدیر. استاد خادم د پښتو ټولنې غړی و او پښتو ټولنه د مطبوعاتو مستقل ریاست پورې مربوطه وه، په دې ریاست کښې د نظریاتي تضادونو له مخه په ۱۳۲۵ هـ ش کال کښې استاد قیام الدین خادم د پښتو ټولنې د دایرة المعارف د ترجمې مدیر او استاد ګل پاچا الفت د پښتو ټولنې د کابل مجلې مدیر مجبور شوو چه د اعتراض په توګه خپل کارونه پرېږدي او بلې خوا ته مخه وکړي. استاد الفت د (اتحاد مشرقي) مسئول مدیر شو او استاد خادم د مطبوعاتو د مستقل ریاست له ساحې څخه بېخي ووت او



استاد خادم د ترکمنستان د ملي شاعر مخدوم قلي په موزیم کښې د ترکمني ژبې
د اکادمۍ د یوه غړي سره . عقرب ۱۳۶۴ هـ ش

د غلام حسن صافي د تعاوني ډیپو د رئیس په مرسته د
دغه ډیپو د پلټنې د رئیس په حیث وټاکل شو او ننګرهار
ته ولاړ.
په افغانستان کښې شدید استبداد، اختناق او سانسور
نور نه شوای چلیدی. نو ځکه د حکومت په دستګاه کښې
تغییر پیښ او کابینه بدله شوه. روښانفکره وطنپالو
ځوانانو او شخصیتونو دغه ورځ له خدایه غوښتله. د دوی
تر منځ مفاهمې، مذاکرې، ناسته ولاړه او د فکر تبادله
زیاته شوه د اتحاد مشرقي جریده د دغسې بحثونو پانه
وګرځیدله، هلته په دې باره کښې د استاد الفت او استاد
خادم زیاتې مقالې او ډېر په زړه پورې شعرونه خپریدل.
د ۱۳۲۵ هـ ش کال د دلو په ۲۵ مه د جلال اباد ښار د
پېښورۍ دروازې د استاد خادم په کور کښې د ویښ
زلمیانو بنسټ کښېښودلی شو. استاد خادم او استاد
الفت یې له موسسانو څخه و. تر یو کاله پورې دغه نهضت
د ټول هېواد په سویه عام شو.
د لنډو ادبي، انتقادي پارچو لیکل او د لنډو شعرونو
جوړول رواج شوو. طنز لیکنه پراخه شوه. سندر غاړو ته
شعرونه ورکول پیل شو.... په دې فعالیتونو کښې د استاد

خادم ليکنې ، لار ښودنې او هلې ځلې د ډيرې ستاينې وړ دي. هغه به د خلکو پرګڼو په ټولنو کښې هم وينا ګانې کولې. ډېر ځله به يې په وينا کښې ابتکار موجود ؤ.
په دغه مهال د ويښ زلميانو فعاليت ګړندی وو ، په دې لړ کښې ما هم خپلې ليکنې نظم او نثر د استاد خادم او استاد الفت تر کتنې او اصلاحاتو وروسته خپرولې.
په دغه وخت کښې د هندوستان څخه د برطانيې د استعماري حکومت ټغر ټول او دغه لوی هېواد د هند او پاکستان په دوو برخو وويشل شو ، مګر د پښتونخوا سيمه د يو جعلي ريفرنډم په پای کې په پاکستان پورې وتړل شوه ، نو د هغه ځای د خلکو د اکثريت او ازادۍ غوښتونکو عناصرو اعتراض وکړ او د افغانستان دولت هم.
ويښ زلميانو هم په دې برخه کې د پښتونخوا د خلکو د ازاد سرنوشت مطالبه کوله ، په لومړي سر کې دغه سيمه د هند په خپرونو کې د پټانستان په نامه يادېده ، د افغانستان په خپرونو کې هم دې نوم ځای ونيو ، مګر د ننګرهار ويښ زلميانو د يوې جلسې وروسته د خوګيانو

د کړې د بازار له دروازې سره استاد قیام الدین خادم وینا وکړه او ویې ویل :
**( دا سیمه دې نور ( پټانستان ) نه بلکه ( پښتونستان ) وبلل شي ) .**
**تر دې وروسته د افغانستان جرایدو او خپرونو کې د پښتونستان دا نوم رواج شو او بیا په پښتونخوا او نړۍ کې هم عام شو .**
په هر صورت استاد خادم زما په غالب گمان په **۱۳۲۸ هـ** ش کال هرات ته ولاړ. په هرات کښې یې د **هغه ولایت** ورځپاڼې (اتفاق اسلام) ته ځېل آثار ورکول. تر دې وروسته د ویښ زلمیانو د ډلې تر منحل کېدو پورې استاد خادم په یوه وظیفه یو ځای او یوه سیمه کښې د یو کال نه زیات وخت تېر نه کړی شو.

## د طلوع افغان چلوونکی

استاد خادم په ۱۳۲۹ کښې له هرات نه کندهار ته تبدیل او د «طلوع افغان» د ورځپاڼې مسئول مدیر شو. طلوع افغان هم د اتحاد مشرقي په شان د پښتنو د یو بل ستر او مهم ولایت د مرکز دولتي ورځپاڼه وه . استاد خادم دغې ورځپاڼې ته هم د چاپ او صحافت هم د اطلاعاتو د نوي

والي او جدت او هم د ادبي او انتقادي مضامينو د خپرولو له لارې ښه ښه ورکړه . استاد خادم په دغه ورځپاڼه کښې هم د ویښ زلمیانو د مرام تبلیغ کاوه .

## د استاد لومړنۍ شعري مجموعه

د ولایاتو مطبعې وړې وې او ظرفیت یې محدود و ، بیا هم استاد خادم له هماغو محدودو وسایلو نه د شعر او ادب او د خپل مرام د خپرولو لپاره زیات کار اخیست او د خپلو شعرونو لومړنۍ مجموعه یې د «طلوع مطبعې» ته د چاپ لپاره وسپارله . مګر د وخت د حکومت له خوا استاد خادم ته دومره وخت ورنه کړی شو چه کتاب یې چاپ شي. دی یې کابل ته وغوښت او د پښتو ټولنې غړی شو.

## د کابل مجلې چلوونکی

استاد خادم په ۱۳۳۰ هـ ش کال کښې د کابل د مجلې چلوونکی و. د مجلې د مسئول مدیر چارې یې ترسره کولې مګر د پښتو ټولنې د لوی مدیریت او د مطبوعاتو د مستقل ریاست د عدم مساعدت په اثر نوم یې د مجلې

په سر د مسئول مدير په حيث نه چاپېده . سره د دې يې هم خپله وظيفه په ډېر دقت، شوق او علاقه منډۍ تر سره کوله .
کابل خو د سياست او مطبوعات او پښتو ټولنه د سياست او ثقافت مرکز ؤ، خو د ثقافت خادم پکښې نه ځايېده او ځورول کېده. خو چه مجبور شو چه بيا مطبوعات پرېږدي او په اداري چارو بوخت شي. هماغه و چه استاد خادم په ۱۳۳۱ کال د سروبي د برېښنا د فابريکې د کوپراتيف د لوی مدير په حيث وګومارل شو.

**د «اصلاح» د ورځپاڼې مسئول مدير ( سر محرر )**
په ۱۳۳۲ هـ ش کال د مطبوعاتو د مستقل رياست د رهبري په کادر کښې تغيرات راغلي و. استاد خليل الله خليلي د مطبوعاتو مستقل رئيس شو. د هغه په پېشنهاد استاد خادم د «اصلاح» د ورځپاڼې د مسئول مدير په حيث مقرر شو. «اصلاح» دولتي اورګان او د ټول هېواد سراسري ورځپانه وه. د دولت مامورين تر پنځمې رتبې (مدير) پورې مکلف و چه په هغې کښې اشتراک وکړي.

د اهميت له مخه يې نور مشترکين هم زيات و. دا ورځپانه په پښتو او دري ژبو چاپېدله. کله د دواړو ژبو تناسب او تعادل پکښې ساتل کېده او کله نه.
مګر د استاد خادم په پېشنهاد اصلاح په سلو کښې پنځه اويا پښتو او پنځه ويشت دري او مقابل کښې انيس په سلو کښې پنځه اويا دري او پنځه ويشت پښتو شو.
د ورځپاڼې د ژبې سبک او ستايل ښه شو. پښتو او دري برخې يې په خوږه، روانه، ساده، عام فهمه، ژورناليستي ژبه خپرېدله. دې کار ته د استاد خادم خاصه توجه وه.
استاد خادم به په اصلاح کښې د ورځې مهم مسايل طرح کول. د (مليت او بين الملليت) په باره کښې د دې ورځپاڼې يوه په زړه پورې اقتراح وه چه استاد خادم طرح کړې وه. پخپله يې پکښې ښه مقاله ليکلې ده او ماهم يو څه ليکلي و. د هغه وخت مشرانو پوهانو او ځوانو ليکوالو پکښې برخه اخستې وه. زما په فکر دا مقاله او دا ډول څېړنې اوس هم زمونږ د ځوانانو په درد خوري.
د اصلاح د چلولو په وخت استاد خادم وکولی شول چه خپل ځينې کتابونه هم چاپ کړي چه دلته به يې وښيو.



استاد خادم په عشق آباد کښې د ترکمنستان د مشهور ليکوال او مصنف کربابايوف سره . عقرب ۱۳۴۴ هـ ش

(۱) د شریف سرگذشت

دا یو لوی داستان دی چه د هند لوی لیکوال مولانا نیاز فتحپوري لیکلی دی. استاد خادم له اردو ژبې څخه ترجمه کړی او د اصلاح د ورځپاڼې له خوا په ۱۳۳۲ هـ ش کال کښې چاپ او خپور کړی دی. د ترجمې ژبه یې ډېره خوږه، ساده، روانه او سلیسه ده. هیڅوک نه شي ویلی چه دا له بلې ژبې نه ترجمه ده او که استاد خادم پخپله داستان لیکلی دی. دا د استاد خادم د لیکنو او ترجمو یو لوړ خصوصیت دی. استاد خادم د دې ترجمې اهداء په دې عباراتو کړې ده:

«دا کتاب هغو ځوانانو او پېغلو ته اهدا کیږي چه د ازدواجي ژوند د فلسفې د نه پوهېدو له کبله د خپل شخصیت او ځوانۍ د تباه کولو خوا ته روان دي. هیله ده چه د دې اثر په لوستلو سره به سمه لیار ومومي او له تباهۍ څخه به خلاص شي او دغه وخت به زما کوښښ کامیاب وي. دا کتاب د حضرت نیاز تالیف دی چه ما ترجمه کړی دی.» د شریف سرگذشت هم د افغاني لوستونکو له خوا ښه استقبال شو او هم بهرنیو ختیځ

پوهانو او افغانستان پېژندونکو وربانديې مثبتې تبصرې وليکلې.

### (۲) د مرغلرو امېل

لکه چه مخکښې مو وويل دا د استاد خادم د شعرونو لومړۍ مجموعه ده چه نيمه يې (تر ۲۰ مخه پورې) د کندهار د طلوع افغان په مطبعه کښې چاپ شوې وه او نيمه يې پاته وه. په دې کښې استاد خادم پخپله هورې دورې شو. مګر کله چه استاد د اصلاح د ورځپاڼې مدير شو بيا يې نو غم وخوړ. چاپ شوې پاڼې يې له کندهاره وغوښتلې او پاته برخه يې د کابل په دولتي مطبعه کښې چاپ کړه. په دې مجموعه کښې د استاد خادم سل پارچه شعرونه راغلي دي. استاد په مقدمه کښې ليکي:

«د مرغلرو امېل رومبی نظم په ۱۳۰۹ هـ ش کال کښې ليکل شوی او دې سلسلې د ۱۳۳۱ هـ ش کال پورې دوام کړی دی. نو په دغه شان سره په شلو کالو کښې دا کتاب ليکلی شوی او ترتيب شوی دی. هر نظم په يو خاص وخت کښې د مخصوصو احساساتو او ماحول د تاثير لاندې تسويد شوی دی او شايد چه د دغو عواملو اغېزه پکښې

معلومه وي. دا نظمونه اکثره په خپلو وختونو کښې د لرې او برې پښتونخوا په جرايدو کښې خپاره شوي دي. بيا په زحمت سره مسودې يې راټولې شوي او ساتل شوي دي چه څو چاپ ته يې نوبت رسېدلی دی په دې لړ کښې به ډېر نظمونه داسې هم وي چه زما هېر شوي او پاته شوي دي.
دا شل کاله چه د مرغلرو امېل پکښې ليکل شوی دی د پښتونخوا (افغان او افغانستان) د تحول بلکه د ايشيا د انقلاب ورځې دي. په دې ورځو کښې افغان قوم د تاريخ يو مهم پله څخه تېرېږي او په يو سخت اندروني اضطراب اخته معلومېږي. په شل مليونه افغانانو کښې د طوفاني سمندر په شان تموجات شته، مګر د سيلاب غوندې يې مخه نه ده کړې.
«خادم» د يو پرېشانه شاعر په شان له ننګرهاره پاڅېږي د غم جان، غم افغان او غم جهان د کيفياتو سره د عشق د مرمـوزو متروکـو لاندې د ښـکته او پورتـه پښـتيانا (پښتونخوا) په سيمو ګرځي او قدرت په دغه شان سره د مرغلرو امېل پوره کوي. سره د دې چه په دې احيانو کښې څه ليکل، څه ويل څه نشرول او څه تاليفول دومره مشکل کار و چه تصور يې د همدغه وخت سړي کولی شو...»

د پورته لیکنو نه د استاد خادم د شعر هدف او غایه، د هغه محتوا او مضمون او په عین حال کښې هم یې د شخصي اندروني احساس او هم یې له محیط او چاپېریال او له سیمې او جهان سره ارتباط څرګندیږي. هو ! د دې شعري مجموعې اهدا هم په لنډو الفاظو کښې دا خبره را برسېره کوي او هغه داسې ده:

« هغه زلمي ته یې اهدا کوم »

چه « د ادب د حیات لپاره » مبدا باندې عقیده او باور لري
چه « شاعر د بیتونو سازوونکی نه د قومونو جوړونکی دی »

« خادم »

د استاد خادم د شعر هم دغه پیغام دی او شاعرانو ته د هغه د زړه آواز هم. استاد خادم د مجموعې د چاپ په باره په مقدمه کښې لیکي:

«د مرغلرو امېل یو کال په پښتو ټولنه کښې تېر کړی او چاپ ته ونه رسېد او دوه کاله په کندهار کښې پروت و. څکه هغه وخت چه زه له طلوع افغانه موقوف شوم نو دا کتاب هلته د اعانو په پیسو نیم چاپ شوی پاته و.»

**(۳) بایزید روښان**

مولوي محمد امین خوګیاني به ویل چه ما تر خادم صاحب دمخه په بایزید روښان باندې کار کړی دی او یوه رساله مې لیکلې ده دا د هغه د خولې خبره ده، خو دغه رساله په خطي یا چاپي بڼه ما (خدمتګار) نه ده لیدلې، په دې موضوع کښې د استاد خادم بایزید روښان، لومړنی کتاب دی چه په ۱۳۳۲ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی. پر کتاب د چاپ تاریخ نشته مګر (د شریف سر ګذشت) د چاپ نیټه ۱۳۳۲هـ ش کال جوزا ښودل شوې ده او بیا د همدې کتاب په وروستۍ پښتۍ کښې د استاد خادم د چاپ شوو کتابونو فهرست چاپ شوی دی. هلته دا کتاب داسې ښودل شوی دی:

«۲ بایزید روښان (نږدې دی چه طبع شي) سوانح او مشاهیره» نو ضرور په همدغه کال (۱۳۳۲) کښې چاپ شوی دی.

د استاد خادم د بایزید روښان د چاپي کتاب وروستۍ کرښه داسې ده:

«کابل – ۱۲ دلو ۱۳۲۳ قیام الدین خادم».

د دې کرښې نه دا راوځي چه د دې کتاب د لیکنو کار استاد خادم د هغه د چاپ نه یوولس کاله د مخه په ۱۳۲۳ کښې پای ته رسولی دی . په هغه وخت کښې لاد روښان او روښانیانو په حالاتو څوک نه پوهېدل. د « حالنامې » حال نه ؤ معلوم . «خیر البیان» د کوم افغاني پوه له نظره نه و تېر شوی او ختیځ پوهانو لاپوره او سم نه ولوستی. « د علم رساله» لاد جهل په دورو کښې پټه وه د روښان او روښاني شاعرانو اثار نه و چاپ شوي او پیر روښان لا په « پیر تاریک» یا «تاریکي پیر» مشهور ؤ .
استاد خادم د روښان پیر د مخالف آخوند درویزه د منفي لیکنو د ځینو ختیځ پوهانو د لنډو او مبهمو معلوماتو او د تاریخ د ځینو محدودو کتابونو د محدودو لیکنو او د ځینو روښاني شاعرانو د خطي نسخو له شعرونو نه په خپل استخراج، مقایسه او استناد دا کتاب ترتیب کړی دی چه ضرور به له تاریخي تیروتنو نه خالي نه وي مګر تر ډېره حده پورې خصوصاً د کتاب د چاپ په وخت کښې ګټور نوی او ابتکاري کار و.
په هغه وخت کښې چه « روښان » « تاریک » بلل کېده او د څلورو پېړیو د پرله پسې تبلیغاتو په نتیجه کښې د

چاپيريال عام ذهنيت په پوره ډول د هغه په مخالف سمت کښې و د داسې کتاب ليکل او خپرول د ليکوال په علمي شهامت او اخلاقي شجاعت دلالت کوي.

**له «زېري» سره مرسته**

کله چه استاد خادم په سروبي کښې و او بيا د اصلاح د ورځپاڼې مسئول مدير شو خپلې مقالې او شعرونه به يې د مهرباني له مخه زېري ته استول او هلته خپرېدل. د زېري د اقتراح ګانو: «نېکي هدف دی که واسطه؟» «شخصي او اجتماعي ګناه» او «ښومره او ښنګه شعر؟» لپاره يې خپلې درنې مقالې استولې وې. په دغه وخت کښې د شعر او ادب په باره کښې يو کتاب چاپ شو او د استاد خادم دا مقالې هم پکښې ځای لري:

(۱) د شعر غرض او غايه. (۲) ادب او حيات (۳) د شعر او شاعرۍ په باب. دا کتاب (شعر او ادب) نومېږي او په ۱۳۳۳ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا د امريکې د سانفرانسسکو د اوسېدونکو پښتنو: محمد خالد خان، ملا حيات خان، پير محمد خان او امير محمد خان د اعانې په پيسو چاپ شو او وروسته له چاپه د شوروي

اتحاد د علومو اکاډمۍ د افغان پېژندونکو د توجه او استفادې وړ هم وګرځېد. په دغه وخت کښې زه (خدمتګار) د زېري د جرېدې مسئول مدير وم او د شعر او ادب کتاب هم زما تولونه ده چه زما په اهتمام د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوی دی.

## پښتو تدريسات او زيری

د مطبوعاتو د مستقل رياست د رهبرۍ په کادر کښې بيا تغيرات راغلل او د استاد خادم وظيفه بيا بدله شوه.
د دولتي مامورينو د پښتو کورسونو مديريت د پښتو ټولنې له چوکاټه ووت او «د پښتو تدريساتو لوی مديريت» ترې جوړ او استاد خادم يې لوی مدير شو.
د «زېري» جريده هم د پښتو ټولنې پر ځای دې لوی مديريت پورې مربوط شو او د پوهاند رښتين پر ځای د استاد خادم تر نګرانۍ لاندې راغله. زه د استاد خادم سره ډېر خوشحاله وم مګر افسوس چه زه لږه موده پس ننګرهار ته ولاړم. يو څه موده د زېري ټول کار د استاد خادم په غاړه و او بيا ښاغلي معتمد شينواري يې مسئول مدير شو چه د خادم صاحب تر هدايت لاندې يې کار کاوه.



د چین د سفر له عکسونو څخه . عقرب ۱۳۵۱ هـ ش
په عکس کښې استاد خادم، ډاکټر انس او سلطان
محمود غازي ليدل کيږي.

پخواني زيرى د نړيوالې جگړې په دوران کې بند شوى و.
په ۱۳۳۱ هـ ش کال کې بيا خپور شو او زه يې مسئول
مدير شوم. اوس زيرى هغه پخواني زيرى نه و چې يوازې
درسي او ممد درسي مواد به پکې خپرېدل بلکه د هغې
په ځوا کې يوه ذوقي ادبي او اجتماعي رنگينه او ښکلې
پاڼه ترې جوړه شوې وه چې زيات شهرت او مقبوليت يې
وموند. د استاد خادم اثارو ورته خاص وزن ورکړى و.
په دغو وختونو کې د افغانستان تاريخ د احمد علي
کهزاد ليکنه په پښتو ترجمه کېدله. د هغه په ترجمه کې
خادم صاحب برخه واخستله. همدارنگه د ده يوه منظومه
(د بابا نصيحت) تر عنوان لاندې د زيري د ادارې له خوا
ځانله چاپ شوه.

## په پښتو ټولنه کې

په ۱۳۳۵ هـ ش کال کې د پښتو ټولنې لوى مديريت
رياست شو. استاد گل پاچا الفت د ملي شورا د وکالت
دوره پاى ته رسولې وه او د پښتو ټولنې رئيس شو. د پښتو
تدريساتو لوى مديريت د زيري د جريدې سره پښتو ټولنې
پورې مربوط شو. په پښتو ټولنه کې لوى علمي تحريک

پیدا شو. د پښتو ټولنې د غړو د علمي مدارجو لایحه منظوره شوه. د پوهانو محققانو مخه ورته وشوه. پخواني پاخه لیکوال او له پوهنتونه فارغ شوي ځوانان ورته راغلل. استاد خادم هم د پښتو ټولنې غړی شو. د نوې لایحې له مخه استاد الفت او استاد خادم د څېړنوال په علمي درجه ومنل شو.

په پښتو ټولنه کښې پښتو ژبې او ادب په باره کښې بحثونه تاوده شول. استاد خادم به پکښې فعاله برخه اخیستله. د پښتو تصفيې په باره کښې يې مقالې وليکلې او خپلې نظر يې يې په کابل مجله کښې خپرې کړې. په نورو برخو کښې به هم د استاد خادم تحقيقي مقالې په «زيري» او «کابل مجله» کښې خپرېدلې. په دې موده کښې د ده ځينې ځانله اثار هم چاپ شوي دي چه دلته به يې وښيو:

## (۱) خیالي دنیا

دا د استاد خادم د هنري نثر یا ادبي پارچو مجموعه ده چه ده «منثور اشعار» بللي دي. که سړی ورته ښه ځیر شي په دې پارچو کښې زیات شعریت سره مخ کیږي. د الفاظو ښکلا د معنا ژوروالی، ښکلي تصویرونه، د ژبې خوږوالی او فصاحت د دغو پارچو هغه خصوصیتونه دي چه هغه د ښو شعرونو په قطار کښې دروي. استاد خادم د دغسې شعرونو دا دوهمه چاپي مجموعه ده دا لیکنې یو شی نه لري هغه ریتم او اهنګ دی. هغه عروض دی. په نورو ژبو کښې د « نوي شعر » یا « آزاد نظم » نمایندګان خو لا د عروضي مفاعیلو قیدونه نه دي مات کړي، مګر دلته دا قید هم مات شوی دی.

د استاد خادم په (خیالي دنیا) د استاد الفت په (غوره نثرونه) او د خدمتګار په (مرغلرې) کښې داسې پارچې شته چه تر ډېرو منظومو زیات شعریت لري. بې ځایه نه ده چه خیالي دنیا، منثور اشعار بلل شوي دي.

راځئ چه دغه ادبي خوندوره عنعنه بېرته ژوندۍ کړو.

خيالي دنيا د استاد خادم د ۵۲ ادبي پارچو يا منثورو شعرونو مجموعه ده چه په ۱۳۳۹ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوې ده.

(۲) نبوغ او عبقريت

استاد خادم له پخوا نه په دې باره کښې مقالې ليکلي او د هېواد په مطبوعاتو کښې خپرې کړې دي. بيا هغه مقالې يې راټولې کړي ګوتې يې پکښې وهلي نور څه يې ليکلي او د يو کتاب په بڼه يې چاپ ته ورګاندې کړي دي. دا کتاب په ۱۳۴۰ هـ ش کال د پښتو ټولنې له خوا چاپ شو. ما بـه ليدل چه په دې کتاب باندې په کابل کښې ډېر بحثونه کيږي. د استاد خادم دغه کتاب د هغه وخت د ليکوالو تر منځ معرکة الارا و. ډېرو ليکوالو ورباندې مثبت تقريظونه ليکلي او چاپ کړي دي او ځينو ورباندې اعتراضونه هم کړي دي چا ليکلي چه «مولانا خادم د نبوغ او عبقريت د کړاړې فلسفي موضوع ښه تعقيب کړې او د قدر وړ زحمت يې ګاللى دى.» او «دا کتاب د علمي اسلوب په بنسټ سم ليکل شوى دى...» او چا ليکلي دي چه «د دې پر ځاى چه داسې علمي او فلسفي موضوعاتو د تشريح او تحليل د

پاره يې له علمي او تحقيقي دلايلو څخه كار اخستى واى او د علماو او پوهانو نظر يې سره له خپلو علمي قضاوتونو څرګندې کړې واى له خپل عندي نظر او تصور څخه يې كار اخستى دى.»

په پښتو ټولنه كښې د استاد خادم سره مخامخ صحبتونه او بحثونه هم كېدل... زه خو په دې فلسفي موضوع نه پوهېدم او اوس هم نه پوهېږم، مګر زما دومره په ياد دي چه په استاد باندې ځينې حملې هم له عندي او شخصي احساساتو نه خالي نه وې. ډېر اعتراضونه كُلي او عمومي و. د كتاب په كومه مشخصه خبره ما كوم مشخص اعتراض لوستلى يا اورېدلى نه دى. غټ اعتراض دا و چه خادم صاحب له ځانه غږېدلى دى. يعنې له بل چا نه يې روايت او نقل قول نه دى كړى. حال دا چه دا يې هم كړى دى او خپله رايه يې هم څرګنده کړې ده.

ځينو به ويل نبوغ او عبقريت هېڅ وجود نه لري، انسانان سره برابر دي. په برابرئ كښې نبوغ له كومه شو؟

ما خو وويل چه زه په دې خبرو نه پوهېدم او اوس هم نه پوهېږم مګر دا وروستى سوال خو دومره ساده دى چه ما غوندې ساده بنيادم هم پكښې څه ويلاى شي. هغه دا چه د



خنجان . ۱۳۴۲ هـ ش
استاد خادم او د اطلاعات و کلتور پخوانی وزیر محمد
ابراهیم عباسي او یو تن بل .

«نبوغ شته» په مطلق ډول او «نبوغ نشته» په مطلق ډول حکم به تر ما غوندې يو ساده سړی وکړي او تر هغه به بل ساده يې ومني.
هو! که په نسبي ډول ووايو، بيا نو ګورو چه په ربښتيا هم، انسانان ټول سره برابر دي او له برابرو استعدادونو سره نړۍ ته راځي دا نړۍ ده چه د هغو په وجود اثر غورزوي او د چاپېرېال تاثيرات توپيرونه پکښې پيدا کوي. په دې صورت مونږ پر انسان، د هغه د چاپېريال تاثير او د مور له ګېډې نه د مرګ تر ورځې پورې د هغه په وجود دغه تاثير منو، نو چا د چا او د څه لاربنده کړې ده چه د بنياد مانو په کړو وړو، عادتونو، روغتيايي حالاتو او نورو کښې فرق رانه شي؟ مونږ ګورو چه د دغو موثراتو د لږ او ډير، څه او څنګه او څومره؟ له مخه او د هغو د منلو د څرنګوالي په تناسب ځينو انسانانو ته دا امکان برابرېږي چه د ژوندانه په يو يا څو ډګرونو کښې تر نورو دمخه شي، دی به د ټولو موثراتو او محرکاتو تر تاثير او تحريک لاندې مخکښې شوی اوسي مګر بيل انسان يا نور انسانان وايي چه «هغه دی نابغه» نو خادم صاحب په دې کښې څه ملامت دی.

په هر صورت دا د دې محاکمې ځای نه دی او بېرته را ګرځو د نبوغ او عقریت د خاوند ژوند پېښو ته.

## د « هېواد » ورځپاڼې مسئول مدیر

د ۱۳۴۱ هـ ش کال په وروستیو کېښې د افغانستان د حکومت په چوکاټ کښې تغیر پېښ شو. ډاکټر محمد یوسف د سردار محمد داود پر ځای صدر اعظم شو. په نوې کابینه کښې استاد ګل پاچا الفت د قبایلو مستقل رئیس وټاکلی شو. د پښتو ټولنې د ریاست په مقام د ده د دغه مقام سلف پوهاند صدیق الله رښتین د ده خلف شو. استاد خادم ته په پښتو ټولنه کښې د پاته کېدو ګنجایش پاته نه شو. کار یې پرېښود. د څه لنډې مودې اوزګارتیا نه وروسته د ۱۳۴۲ هـ ش کال په لومړنیو میاشتو کښې د رئیس په بنسټ د هېواد د ورځپاڼې د مسئول مدیر په حیث وټاکلی شو.

د «هېواد» اونیزه جریده په ۱۳۲۸ هـ ش کال په پښتو ژبه د نشر ډګر ته راووتله. وروسته بیا ورځپاڼه شوه سربېره پر «اصلاح» د بلې دولتي ورځپاڼې په توګه په پښتو خپرېدله. استاد خادم تر ۱۳۴۴ هـ ش کال پورې د دې

ورځپاڼې مسئول مدير و. هغه يې په ډېره ښه سويه چلوله او د خپل عادت سره سم د نورو موضوعاتو په خوا کښې ادبياتو او د ورځپاڼې د ژبې سمولو ته هم ډېره زياته توجه کوله. وخت په وخت يې مشاعرې هم پکښې خپرولې. زما په ياد دي چه ما آن له مسکو نه د «هېواد» له يوې مشاعرې سره ملګرتيا کړې وه.

استاد خادم د هېواد د خپرونو له لياري خپل دغه اثرونه چاپ کړل:

(۱) مکارم الاخلاق

دا د عربي ليکوال الشيخ عبدالقادر المغربي د «الاخلاق و الواجبات» د عربي کتاب پښتو ترجمه ده چه مترجم د (مکارم الاخلاق) نوم ورباندې ايښى دی. دا ديني، اجتماعي، اخلاقي، کتاب دی چه مسلمان ته د اسلام د دين په رڼا کښې د ژوندانه د چال چلند، کار روزګار، طاعت او عبادت په باره کښې لارښوونې کوي.

استاد خادم د دې کتاب پښتو ترجمه د ۱۳۱۸ هـ ش کال د ميزان په ۱۳ مه نېټه بشپړه کړې وه. خو ځرنګه چه په هغه وخت کښې داسې فعاله اداره نه وه چه داسې ديني

کتابونه یې چاپ کړي وای نو کتاب له مترجم سره پروت و او استاد بـه کلـه کلـه د دې کتـاب خطي نسـخه مـونږ تـه ښودله. استـاد د کتـاب د ترجمـې نـه پنځـه ویشـت کالـه وروسته په دې بریالی شو چه له خپل صلاحیته کار واخلي او مکـارم الاخـلاق پـه ۱۳۴۳ هـ ش کـال کښـې د هېـواد د ورځپاڼې د اداري له خوا چاپ او خپور کړي. څرنګه چه پـه دې کتـاب کښې په ساده پښتو ژبه دیني ارشـادات بیـان شوي دي نو ځکه د عام ضرورت لـه مخـه د پیښور پښتنو دغه کتاب د دوهم ځل لپاره د یونیورستي بـک ایجنسـۍ له خوا چاپ کړی دی.



استاد قیا مالدین خادم



آستاد خادم اوخدمتګا د پښتانه

**(۲) نوې رڼا**

دا د استاد خادم د اجتماعي، سیاسي، ادبي، سلو مقالو یوه مجموعه ده، چه دا مقالې د کتاب د چاپ له وخته په تېرو څلوېښتو کلونو کښې په خپل وخت د هېواد په خپرونو، زیاتره په اتحاد مشرقي، طلوع افغان، زېري، کابل، اصلاح او هېواد کښې خپرې او ژورنالېستیک ارزښت یې زیات دی. په دې کتاب کښې نور خو د لیکوال یو هدف دا هم ؤ چه د پښتو د عادي نثر نمونه وړاندې کړي او ریښتیا هم چه ډېره ښه او غوره نمونه یې وړاندې کړې ده چه د هېواد ژورنالېستانو لپاره د مشق او تقلید وړ ده. د ټولنیزې مفاهمې د وسایلو ژبه باید دغسې ساده، روانه، خوږه او ښکلې وي چه که موضوع مبهمه او مغلقه هم وي د سواد د متوسطې سویې خاوند وربانديې زر پوه شي.

د کتاب په سر کښې مقالې سل ښودلې شوي دي خو په فهرست کښې (۱۰۵) عنوانه درج دي. دا دواړه صحیح دي په دې ډول:

ـ په اجتماع کښې خپل چاري، په اجتماع کښې ساده وګړي، په ټولنه کښې سودا ګران، نېکان او محسنان تر

څلورو عنوانونو لاندې ليکنې په حقيقت کښې د يوې مقالې څلور برخې دي (د کتاب د ۲۲۲ نه تر ۲۴۲ مخه پورې).

ـ پښتون د ملت نوم دی د قام نوم نه دی. تر عنوان لاندې مقاله د استاد الفت ليکنه ده داسې ښکاري چه دا مقاله د مولف خوښه شوې ده او هغه يې را اخستې ده په آخره کښې يې تخلص (الفت) هم راوړی دی. (د ۳۸۹ نه تر ۳۹۳ مخه پورې)

ـ آيا د وطن مينه غريزي ده؟ تر عنوان لاندې مقاله چه د مکالمې يا څو کسيز ډيالوګ شکل لري ما (بختاني) ليکلې ده او د زېري په جريده کښې خپره کړې ده. دا ليکنه هم د استاد خوښه شوې ده، هغه يې په خپل کتاب کښې را اخستې ده او په پای کښې يې ورته ليکلي دي: (زېری). (۳۹۴ نه ۴۰۴ مخه پورې).

په دې صورت پخپله د استاد په قلم (سل مقالې) پاته کيږي او د کتاب د سر د اعبارت: (د قيام الدين خادم سل مقالې) سم دی.

دا کتاب د هېواد د ورځپاڼې له خوا په ۱۳۴۳ هـ ش کال په (۵۲۴) مخونو کښې خپور شوی دی.

## په شورا کښې

استاد خادم سره له پخوا نه دا شوق و چه د ملي شورا غړی (وکیل) دې شي. د اولسي جرګې د وکالت د اتمې دورې لپاره یې ځان په کامه کښې کاندید کړی و. مګر د بې علمۍ د عمومیت او د حاکمه طبقاتو د زیاتو مداخلو او په انتخاباتو کښې د زیاتو پیسو د لګولو په وجه خلکو ونه شوای کولای چه خپل خادمان انتخاب کړي. استاد خپله ناکامي ولیده (د زړه درد) یې داسې څرګند کړ:

د پښتون په غلامۍ مې زړه خوږېږي
د خپل قام په بد نامۍ مې زړه خوږېږي
غیرتي پښتون غلام د بل غلام دی
د فلک په بې رامۍ مې زړه خوږېږي
یار د یار جېبو ته ګوري دی سلګۍ کا
د دې مینې په خامۍ مې زړه خوږېږي
نه د ځان او نه د قام شولې خادمه
ستا په داسې ناکامۍ مې زړه خوږېږي (۱)

---

(۱) دا شعر د «مرغلرو امېل» په ۱۰۳ او د «ځاروان» په ۱۱۷ مخ کې لوستی شئ.

یو بل ځل یې بیا غوښتل چه ځان کاندید کړي مګر د بریالیتوب لپاره یې رو ګودر ونه لید او پاته شو.
آخر د زړه دا ارمان یې ووت. په ۱۳۴۴ هـ ش کال کښې د انتصابي سناتور په توګه وټاکل شو او د ملي شورا د مشرانو جرګې غړی شو. دغه دوره یې پای ته ورسوله او بیا کوم بل رسمي کار ته یې زړه ښه نه کړ.

## د شعرونو نوې ګېډۍ

په ۱۳۴۲ هـ ش کال د استاد خادم د شعرونو نوې ګېډۍ یا دوهمه مجموعه له چاپه ووتله. د دې مجموعې لړ شمېر شعرونه « د مرغلرو امېل » کښې هم چاپ شوي وو او زیات تعداد یې هغه وو چه د لومړۍ مجموعې تر چاپ وروسته ویل شوي یا لیکل شوي وو . د استاد خادم د شعرونو دغه نوې مجموعه (ځاروان) نومیږي. ما د دې مجموعې د شعرونو په استناد د نن نه پوره شل کاله دمخه د استاد خادم په شاعرۍ یو څه لیکلي دي. زما لیکنه د ځاروان په سر کښې چاپ شوې ده. زه اوس هم په خپلو خبرو ولاړ یم او ځینې برخې به یې د طباعتي غلطیو تر سمون وروسته دلته بیا ولیکم او داسې :




چوئن لای د چین صدراعظم د افغانی پلاوی، افغانی سفیر او نورو پلاوی
غړی لوی اشنائي - عقرب ۱۳۵۱

« ... که مونږ د سرعت او حرکت په دغه عصر کښې د خپل هېواد تحولات او د هغه د تحول او ترقۍ عوامل او د هېواد او اولس د فکر ، عمل او موقیعت مبهم خصوصیات تر نظر لاندې ولرو او بیا په دې هم اعتراف وکړو چه شعر د محیط هنداره ده نو د خادم صاحب د مختلفو دورو او وختونو په اشعارو کښې دا خبره څرګندیږي چه هره پارچه یې د خپل خپل وخت د جریاناتو او رجحاناتو نمایندګي کوي .

خادم صاحب د هر وخت او زمان د ضرورت او د شرایطو او ظروفو په مساعدت د خپل تشخیص او قضاوت له مخه یو څه ویلي دي او کوښښ یې کړی دی چه کله کله ځینې نقادان چه د خادم صاحب د عمر ټول شعرونه په یوه ورځ کښې لولي نو د ټولو تر متضادو تاثیراتو لاندې وایي چه د خادم صاحب په فکر یا وینا کښې تضاد موجود دی. که مونږ دغه انتقاد ونه منو او یا یې ومنو او د محیط تر تاثیر لاندې خادم صاحب مجبور وبولو او ترې تېر شوو بیا نو د ده په شعر کښې د افغاني اولس د یووالي او پر مخ تګ او بیدارۍ یوه ډېره عمیقه مفکوره پرته ده چه کله په یو رنګ او کله په بل رنګ ځان ښیي .

سربېره پر ملي اشعارو د ده یو څه غزلیات هم شته چه د هغو په عمق کښې یو راز درد موجود دی چه د کلاسیک هنر په ژبه یې په ډېر مهارت ادا کوي. تر دې حده چه کله کله یې کنایي لاد صراحت نه زیات بلاغت پیدا کوي.

د خادم صاحب اکثر شعرونه سلیس، ساده او خواږه دي او د پښتو ژبې محاورات او اصطلاحات یې په ښه شان پکښې ځای کړي دي.

خادم صاحب په خپل سبک او آهنګ کښې هم د پښتو د لرغونو تحریري او هم د عنعنوي شفاهي ادبیاتو او اولسي فولکلور له منابعو نه ډېره زیاته استفاده کړې ده او معاصر مسایل یې په ډېر قدرت د اولس په ژبه بیان کړیدي.

د خادم صاحب شعر د پښتو ادب د لرغونو عنعنو د پیروۍ یوه عصري نمونه ده چه د دې عصر یو ځانله ممتاز سبک یې بللی شو.

شک نشته چه خادم صاحب د پراخې مطالعې خاوند دی نو ځکه د شعر معنوي خوایې بډایه ده. دی وایي:

چه روان تر او بو نه وي او ژور هم له دریابه
نه پوهېږم څله وایې دا شعرونه خوشې خوشې

نو ځکه يې په خوشې خوشې خبرو خوشې خوشې خبرې نه دي ليکلي بلکه د قوم د وينښولو، پوهولو او لوړوالي د پاره يې سندرې ويلي دي ... »

هو ! يوه بله تخنيکي معلوماتي خبره دلته زياتوم، هغه دا چه د مرغلرو امېل په ځينو شعرونو کښې چه چېرته د (ويښ زلميانو) عبارت راغلى له هغه ځخه د وخت مجبوريت له مخه (ويښ) کلمه غورځېدلې او بيا په (ځاروان) کښې بېرته په ځاى شوې ده. ځکه چه په دغه وخت کښې سياسي فضا بدله شوې غوندې وه.

## افغان ملت او افغان اولس

د ۱۳۴۱ نه تر ۱۳۵۲ هـ ش کال پورې زمونږ د هېواد روښانفکران په ډلو او ګروپونو کښې تنظيم شوي و. يوه هم د افغان ملت ډله وه چه د مليت په اساس جوړه شوې وه.

په دغه وخت کښې د ملت روښانفکرانو په هر ځاى ، په هر کور ، په هره دېره او حجره کې ، څومره چه کېداى شواى يو تر بله د نږدې کېدو او ګډو سياسي فعاليتونو د تنظيمولو ، د حزبونو د جوړولو لپاره مشورې ، مشاورې او مفاهمې کولې.

یوه ورځ زه د میوند وات په کوزه برخه په (خادم مېنه) کښې له استاد سره ناست وم او خبرې مو کولې، خبرې دې ځای ته ورسېدې چه څنګه حزب او څه لپاره جوړ شي؟ نو خبره دې ته ورسېده: (کمونست حزب خو نشي جوړېدای، ځکه چه زموږ دیندارہ ټولنه یې هم نه مني او د خارجیانو د مداخلې امکان هم په کې شته، اسلامي حزب خو عام خلک به یې ومني، مګر د خارج د مداخلې لپاره ورته لار بېرته ده او هم د ریا کارانو مغرضانو د لاس د اله کېدو امکانات په کې زیات دي، ځکه چه د عامو طبقاتو دیني جذبات خو د قدر وړ دي، مګر ددوی د بې علمۍ په وجه د مغرضانو له خوا ددوی د بې ځایه استعمالېدو امکانات زیات دي، نو څه وشي؟

زما وړاندیز دا ؤ چه باید داسې حزب جوړ شي چه ملي، اولسي او دیموکرات وي، نوم به یې څه وي؟ (افغان سوسیال دیموکرات)، استاد په ډېره مینه دا نوم تائید کړ، ویې ویل: مبارک، ډېر مبارک نوم دی.

ما وویل: استاده ددې نوم د کلماتو د سر توریو نه د هغه مخفف شکل (اسد) کېږي.

استاد وویل : دا خو لابنه شو ، اسد زمري ته وایي او افغانان خو په شجاعت کې زمریان دي .
ډېره موده وروسته په همدغه نامه او مفکوره د افغان ملت د حزب لومړنۍ کنګره یا د مؤسسانو جرګه په کابل کې د استاد خادم په کور کښې دایره شوه .
د خادم صاحب فکر ، منطق او دلایل په کښې د جرګې د لیارې مشال وو ، زه دې جرګې ته چا نه وم خبر کړی .
استاد خادم د دې ډلې په موسسانو کښې شامل ؤ . د هغه ډېرې زیاتې مقالې د دې ډلې په نشراتي اورګان ( افغان ملت ) جریده کښې خپرې شوي . د دې جریدې د چاپولو په چارو کښې یې هم پوره مرسته کوله او د جریدې چلوونکو د استاد خادم له سیاسي افکارو ، ټولنیزو نظریاتو او ژورنالیستي تجربو نه زیاته ګټه اخستله .
کله چه په دې ډله کښې انشعاب راغی او استاد خادم خواشینی شو او د خپلو افکارو، نظریاتو او اثارو د خپرولو لپاره یې په ۱۳۴۸ هـ ش کال کښې د ( افغان اولس ) په نامه خپله جریده واېستله د دې جریدې د امتیاز خاوند او چلوونکی په خپله استاد ؤ . هغه غوښتل چه د دې جریدې په شا و خوا کښې یوه ملي ډله



نومبر ۱۹۶۵ م عقرب ۱۳۴۴ هش

جوړه کړي ، خو ونه شوه استاد ډېره درنه او عميقه سياسي جريده خپروله چه فرهنگي رنگ ورباندې غالب ؤ. د پېژندل شوو سياسي مکتبونو او فلسفو پيروي يا شديد مخالفت پکښې نه ؤ . له ورځنيو چارو سره يې ډېر تماس نه نيوه او د توندې لهجې انتقادونه پکښې دومره نه خپرېدل.

استاد سره د جرېدې د خپرولو او چاپ څارنې په چارو کې ښاغلو مسافر خان صادق ( پخواني ويښ زلمي ) او ځوان اباسين کونړي مرسته کوله . استاد په همدې بنسټ ماته د ډلې د جوړولو وويل ، مگر ما استاد ته احترام درلود خو د ډلې د انکشاف امکانات راته سېتونزمن ښکارېده نو زه غلی شوم .

ډله نه وه او استاد يوازې و. د جريدې د چاپ او خرڅلاو مرستيالان نه و، يا کم و. د استاد مالي طاقت هم کم و. د حکومت فشار هم راغی او جريده تر يولسو گڼو خپرېدو وروسته بنده شوه. دا تبه هم وشلېده.

## د ژوند وروستي کلونه

په استاد خادم باندې ورې ورې تبې راتلې او شلېدلې مګر لويه تبه يې د ژوند تر پايه پورې ونه شلېدله، هغه د پښتنو د يووالي، ترقۍ او انکشاف غم و چه د ده په زړه کښې يو ځای نيولی و.

هغه د ژوند وروستي کلونه بې کاره او ظاهراً آرام تېرول، مګر چا چه ورسره ناسته ولاړه درلودله او زړه ته يې غوږ نژدې کړی و په هر نفس کښې يې د پښتون پښتون آواز د پښتو پښتو ښکالو، د پښتنولۍ فرياد او د افغان افغان آه او فغان اورېده. په دې کلونو کښې په هغه د پښتنو د اصل نسب، تاريخ، رواياتو او عنعنو په باره کښې فکر، مطالعه او ليکنه کوله. له ورځنيو سياستونو نه ګوښې د ملي فرهنګي سياست پر بنيادونويې فکر او کار کاوه. په ځينو ادبي تحقيقي سيمينارونو کښې برخه اخستله. مقالې به يې ليکلې او اورولې. په خپل فکر او طرز ارم ؤ. هغه د بايزيد روښان په بين المللي سيمينار کښې د روښانيانو مبارزې شرح کړې. د پښتو څېړنو د بين المللي مرکز د تاسيس په بين المللي سيمينار کښې يې په پښتنولۍ رڼا واچوله او په دې وروستيو پېړيو کښې د

پښتو د چاپ شويو آثارو په سيمينار کښې يې د متلونو په رڼا کښې د پښتنو حياتي فلسفه څرګنده کړه او داسې نور. دی به کله روغ او کله ناروغ، کله به په کور و کله په صحرا کله به په کابل يا ننګرهار کښې و او کله به يې پېښور ته هم سر ښکاره کاوه. مګر په هر حال کښې به د افغاني ثقافت غم ورسره و او له دې خدمته نه اوزګاريده.

## پښتو پټئ

استاد خادم په همدې کلونو کښې په پښتو ليک دود فکر او کار کړی دی د (پښتو پټئ) په نامه کتاب يې ليکلی او پېښور کښې چاپ کړی دی.

## لرغوني پښتانه قومونه

دا د استاد خادم يو تحقيقي اثر دی چه ډېر زيار پکښې ايستل شوی دی، دا کتاب په ۱۳۵۳ هـ ش کال کښې په پېښور کښې چاپ شوی دی او دوهم ځل د ۲۰۰۸ عيسوي کال د اګست په مياشت (وږی ۱۳۸۷ ل) په ننګرهار کې چاپ شو.

## نور کتابونه

نوې لار، نوی ادب، علمي پښتنولي، پښتون او پښتنولي د استاد خادم د کتابونو نومونه دي چه استاد خادم په (لرغوني پښتانه قومونه) کښې د هغو يادونه کړې ده او قلمي دي . د يوې لنډې څېړنې له مخه د استاد چاپي اثرونه (۳۰) او ناچاپ يې (۲۲) ته رسېږي . (۲۰) په دې کښې د شاروان د چاپ (۱۳۴۲) نه وروسته د استاد خادم د ژوند د وروستيو کلونو شعرونه، د هغه د رباعياتو او قطعاتو مجموعه چه مالېدلې ده او د هغه د پښتو نحو کتاب چه دا هم ما ليدلی دی ډېر مهم دی.

**بند:**

د ۱۳۵۷ هـ ش کال په لومړۍ ، نيمايي مياشتو کښې استاد خادم اشتباهاً ، بندي شو. د ده نه تحقيق او سوالونه شروع شو. ده په هېڅ ډول شفاهي يا تحريري ځواب او بيان ورنه کړه يوازې دا به يې ويل « زه د دې وطن لېکوال او د خلکو خادم يم.

---

(۱)عبدالله بختاني - د استاد خادم يو شمېر تاليفات – هېواد ورځپاڼه د ۱۳۲۰ د سنبلې د پنځمې نېټې ګڼه .

زه هر چاته تحقیق نه شم ورکولی. ستاسو مشر زما کشر او شاګرد دی ، که هغه له ما څخه تحقیق کوي زه حاضر یم ، نور نو تاسې مه ځان په عذابوئ او نه ما ، بالاخره دا خبره پیاس نورمحمد تره کي ته ورسېدله ، تره کي امر کړی ؤ چه استاد ماته راولئ ، هغسې وشو په خبرو کې تره کي ترې پوښتنه کړې وه : تا څه ګناه کړې چه بندي شوی یې ؟

استاد : هیڅ ، ستا بدمعاشانو هسې ونیولم ، بویې تلم او بندي یې کړم.

تره کی : خپلو ویناوو او خبرو ته پام کوه ، دا ځل زه درباندې خبر شوم او دا دی خلاص مې کړې ، که بل زما بدمعاشانو ونیولې ، نو تر څو چه زه خبرېږم کار به دې وران شوی وي ،

استاده ! دغه دی زه واکمن یم ، ووایه څه رانه غواړې ؟

استاد : که ماسره کوم احسان کوې ، نو دا کتاب مې چاپ کړه! دا کتاب د پښتونولی د ملي افکارو محتوا درلودله ، تره کي امر وکړ چه استاد ته زما د سپرلۍ موټر ورکړئ او موټروان یې پوه کړی ؤ چه دی اول د علومو اکادمۍ ته بوزي چه هلته خپل کتاب د اکادمۍ رئیس ته وسپاري او بیا یې خپل کور ته ورسوئ ، هماغسې وشو مګر د اکادمۍ رئیس د خپل محبوب رهبر (!) امر عملي نه کړ کتاب یې چه علمي ښېرنه وه چاپ نه کړ ، بلکه لا په خپلو محافلو کښې یې ملنډې هم وربوې وهلې او د نشنلیزم وروسته پاتې نظریات یې ګڼل.

## مړينه

استاد خادم زهير ؤ، سپين ږيرى ؤ، رنځور ؤ، د يو عمر فکر او کار له لاسه ستړى ستومانه ؤ. خپله وطنپرستي يې مخې ته درېدله. خدمتونه يې وړيادېدل مات او مات شو. رنځورتيا ګانې يې زياتې شوې غم او اندېښنه ورسره. د دوشنبې په ورځ د ۱۳۵۸ هـ ش کال (د سنبلې په پنځمه) د ۱۳۹۹ هـ ق کال د شوال المکرم پنځمه د ۱۹۷۹ م کال د اګست په (۲۱ نېټه) په علي اباد روغتون کښې يې له بې وفا نړئ نه سترګې پټې کړې په هماغه مازيګر جنازه يې مخ په ننګرهار ولېږدول شوه د حرکت په وخت د استاد لور « ثريا » ما ته مخ واړاوه او ويې ويل :

ته خو زمونږ ماما ته تيلفون وکړه چه مونږ روان شو. شپه به په جلال اباد کښې کوو او سبا به جنازه وړو کامې ته او هلته يې خښوو ... نو ما ورته وويل : استاد ملي او بين المللي شهرت لري ، دى د ټول هېواد خادم دى ، دى په کامه کې مه خښوئ ، دده مزار ته به خلک ځي ، هلته ورته مشکل دى ، سم سرک نشته ، هغې په ژړا وويل: پلار مې چه ژوندى ؤ چا يې قدر کړى چه پس له مرګه يې وکړي. ما په منډه د محصولي تيلفون مرکز ته ځان

ورساوه او د پښتو شاعر ښاغلي نورالدین شاه فخري ته مې دا خواشینوونکې خبر ورکړ ...

**د استاد یادونه او نمانځنه :**

څومره چه یې حق دی او څومره چه ښایي، هومره د استاد خادم یادونه او نمانځنه چا نه ده کړې . په ډېره محدوده توگه دا لاندې یادونې او نمانځنې شوې دي :

۱ . په ۱۳۷۰ هـ ش کال د امیر علي شیر نوایي د ژوندانه او اثارو د څېړلو لسیزه پیل شوه . په دې مناسبت د علومو اکادمۍ له خوا د اوو پښتو مقالو یوه مجموعه هم خپره شوه . د یوې مقالې عنوان ( مکارم الاخلاق ) دی . د دې مقالې په لومړي سر کښې، د خوانند میر مکارم الاخلاق معرفي شوی دی چه هغه د میرعلي شیرنوایي د اخلاقو په باره کښې یو کتاب دی.بیا د مکارم الاخلاق له نامه نه په استفادې سره پښتو مکارم الاخلاق چه د استاد خادم ترجمه ده ښودل شوی او بیا پخپله د استاد خادم لنډه بیوگرافي او بیبلیوگرافي ښودل شوې ده.په دې مقاله کښې د استاد خادم د ژوندانه په باره کښې گټور معلومات وړاندې شوي دي. دې مقالې سره د هغې



استاد خادم د افغاني هيئت سره .
د چين ديوال ۱۳۵۱ هـ ش

لیکوال، ښاغلي زلمي هېوادمل، خپل نوم نه دی چاپ کړی. ولې؟

۲. په همدې کال کښې زه د «هېواد» مسؤل چلوونکی وم. د استاد خادم د دوهم تلین په ورځ، د ۱۳۲۰ د سنبلې په پنځمه د هېواد په ورځپانه کښې مې د دې ورځپانې د یو پخواني حقدار مسؤل مدیر استاد خادم په باره کښې یو لړ مطالب خپاره کړل. په دې کښې د (یاد استاد گرامي) او (د استاد خادم یو شمیر تالیفات) په عنوانو زما مقالې، (استاد خادم د شوروي پوهانو په نظر کښې) د سرمحقق معتمد شینواري څېړنه، (زمونږ خادم) د نصرالله حافظ شعر د استاد خادم شپږ پارچې شعرونه او نثرونه او داستان، د نوموړي استاد (افغاني ترانه) د هغه په خپل خط او عکسونه چاپ شو. زه په دې کار اوس ویاړم او ورسره دهغو ملگرو په درک تاسف کوم چه په تعصب او تنگ نظرۍ یې زه په دې کار وترټلم.

۳ــ په۱۳۲۵ هـ ش کال د قومونو او قبایلو د وزارت د نشراتو او فرهنگي چارو د ریاست له خوا د استاد خادم د نمانځنې لپاره یو ادبي محفل جوړ شو. په هغه کښې ما وینا وکړه. مشاعره وشوه او د استاد خادم شعرونه هم

واورول شوه. زما وینا بیا د (استاد قیام الدین خادم) تر عنوان لاندې د نوموړي وزارت د ( ملیت های برادر ) په مجله کښې، د استاد خادم له پورتریت سره چاپ شوه.
۴ـ زه د ژورنالېستانو د اتحادیې منته کوم چه د ژورنالېستانو د معرفۍ په لړ کښې یې د استاد خادم د پېژندنې کار ماته سپارلی دی. ما د وخت او وسایلو له محدودیت سره دا لیکنه وکړه. زه اعتراف کوم چه زما دا کار ډېر مختصر ، محدود او نیمګړی دی. د استاد خادم حق تر دې زیات او کارونه یې ډېر دي چه پراخې اکاډمیکې څېړنې غواړي. د هغه چاپي نایاب او ناچاپ اثار هم باید ولټول شي وتاکل شي او وڅېړل شي او د چاپ او نشر ډګر ته راووځي.

## استاد خادم د هېواد د پوهانو په نظر کښې :

د ژوندیو انسانانو تر منځ سیاسي رقابت، حسد ، غبطه، بدبیني مخالفت او دښمني یو واقیعت دی. د پښتنو په جامعه کښې دا ناروغۍ زیاتې دي. ددې په خواکښې انسان د ورورۍ، همکارۍ، مرستې ، متقابل تعاون او احترام، پېرزوینې، مینې اومحبت سرمنزل خوا ته روان

دی او پښتانه هم ورته متوجه شوي دي. هر ژوندی بنیادم د دغـو دوو کتـه ګورېـو د متضـادو عملونـو او عکـس العملونـو پـه بهیر کښـې ژونـد تېروي. اسـتاد خـادم هـم دغسې و. هغه یو صریح خبرلوڅی نقاد و. په طبیعت کښې یې راستي وه. نو ځکه یې خپلو خبرو ته د ریاکارۍ لفافۍ نـه جـوړولې او ډېر ځلـه د نـازکې طبعـې خاونـدان بـه پـه مجلس کښې ترې خفه کېدل. هغه پوره د کفایت ، لیاقـت او صلاحیت خاوند پوه لیکوال ؤ. دهغـه ځینـې همعصـران ډارېدل چه دی به د هغوی ځـای او موقـف ونیسـي نـو ځکـه یې مخنیوی کاوه دا ډېره د افسوس خبره ده چه ډېر کسـان حتی پوه او هوښیار خلـک هـم دې تـه توجـه نـه لـري چـه هـر انسان د خپل فکر او کار له مخه په تولنه کښې خپـل مقـام لـري او هغــه تــه رسـیږي. هیڅـوک د هیڅـا مقـام نشــي اشغالولی. خصوصا دعلم او فرهنګ د خادمانو په محافلو کښې. ځکه چه دا هغه خلک دي، چه دوی خپلې سوانح پـه خپل قلم لیکي. د بـل چـا سـفارش، واسـطې او سـتاینې او همدارنګه د بل د شیطانۍ جاسوسۍ او دسیسو لپاره هیڅ ضـرورت نشـته. هـو ! پـه دې شـرط چـه جامعـه هـم لـږ څـه روښانه او بینا وي.

**ان اثار ناتدل علينا:**

په هر صورت د استاد خادم ژوند او شخصيت د خپلو همعصرو د حسادتونو له شر نه په امن کښې پاتـه نـه شو. د حکومت او حاکمو طبقو او قشرونو رول هم چلېده.

د دې سره هم زمونږ د هېواد پوهانو، د استاد خادم همزولو او کشرانو هر وخت د ده د ژوندانه او اثارو په باره کښې ليکنې کړې دي. دا ليکنې زياتره د واقيعت لـه مخه او مثبتې دي. واقعي انتقادونه او غرض آلوده اعتراضونه او تعرضونه هم پرې شوي دي. د استاد خادم تذکره سيد قاسم رښتيا په ۱۳۱۸ کښې وليکله او د هماغه کال په کالنۍ کښې يې خپره کړه. بيا تر هغه شل کاله وروسته په ۱۳۴۰ استاد عبدالروف بېنوا په (اوسني ليکوال ـ لومړى ټوک) کښې دده بيوګرافي ترې واخستله او خپلې تبصرې سره يې خپره کړه. په دې توګه د استاد خادم د ژوندانه په باره کښې لـه ښاغلي رښتيا نه تر خدمتګاره پورې، د هېواد ليکوالو: پوهاند عبدالحى حبيبي، استاد ګل پاچا الفت، عبدالرحمن پـژواک، استاد عبدالروف بېنـوا، پوهاند صديق الله رښتين، محمد قدير تره کي، غلام جېلاني جلالي، پوهاند سيد بهاوالدين مجروح، اجمل

ختک، عبدالحلیم اثر، خان محمد ایوب خان اڅکزي، راز محمد وینې، عبدالوکیل صداقت، حبیب الله رفیع، عبدالحکیم هلالي، معتمد شینواري، زلمي هېوادمل، غلام حبیب کاموي، غلام حبیب نوابي، او نورو وخت په وخت لیکنې او تبصرې لیکلي دي چه د لیکوالو په کتابونو، د استاد خادم د تالیفاتو په سریزو یا په مجلو، جریدو او ورځپاڼو کښې خپرې شوي دي.

**استاد خادم د بهرنیو پوهانو په نظر کښې:**

د استاد خادم د آثارو په باره کښې ضرور، د بهرنیو هېوادونو خصوصاً د ګاونډیو هېوادونو: هند، پاکستان، شوروي اتحاد او چین په مطبوعاتو او علمي لیکنو کښې یادونې او څېړنې شوي دي ده د هند په نیمه وچه کښې کلونه تېر کړي او درسونه یې ویلي دي. د هغه ځای مطبوعاتو سره یې روابط ساتلي او اثار یې پکښې خپاره کړي دي، شوروي اتحاد او چین ته په سفرونو تللی او دهغو هېوادونو په لیکوالو کښې دوستان آشنایان او شاګردان لري.

دلته دنمونې په ډول د شوروي اتحاد د علومو د اکادمۍ د پښتو پوهانو له ليکنو څخه د استاد خادم په باره کښې يوه ليکنه ښيو. مشت نمونه خروار.

**د دوکتور ګيرس ليکنه :**

دوکتور ګ. ف ګيرس د شوروي اتحاد د علومو د اکادمۍ علمي غړى مشهور ادب پېژندونکى دى چه د پښتو په پخواني او اوسني ادب کښې پراخه مطالعه لري او زيات کار يې کړى دى. په دې لړ کښې د قيام الدين خادم په باره کښې هم ليکنه لري چه څينې يې اقتباس کوو:

**قيام الدين خادم :**

په ۱۹۴۱ م کال کښې د دوو مجموعو «نوى ژوندون»د قيام الدين خادم او «بله ډيوه» د ګل پاچا الفت چاپېدل د هغه وخت په ادبي ژوند کښې يوه مهمه پېښه وګڼل شوه.
قيام الدين خادم د نويو معاصرو پښتنو ليکوالو څخه دى. دى په ۱۹۱۲ ع کال د ننګرهار د کامې په سيمه کښې زېږېدلى دى او په قوم زاخېل دى . ده ډېر کلونه په هند



استاد خادم او افغاني ډله په چین کښې
عقرب ۱۳۵۱ هـ ش

کښې تېرکړي دي او هلته یې خپل دیني تحصیلات او علوم تکمیل کړي. کوم وخت چه ده خپل هېواد ته مراجعه وکړه نو د معلم په حیث په کامه او جلال اباد کښې مقرر شو. په عین حال کښې ده د ننګرهار په ورځپاڼه کښې هم کار کاوه او هلته یې شرکت درلود.
په ۱۹۳۴ م کال کښې خادم د کندهار په ادبي انجمن کښې داخل شو. په دې ځای کښې د ده فعالیت په ادبي کارونو کښې ښکاره شو او وسعت او انکشاف یې پیدا کړ. ده یو ګرامري کتاب (د پښتو معلم) تصنیف کړ او په ۱۹۳۵ م کال کښې یې د سپنسر کتاب (د کوچنیانو اخلاقي پالنه) ترجمه کړ. په هماغو کلونو کښې د خادم ډېر اشعار د کندهار اخبار (طلوع افغان) کښې چاپېدل او دا سلسله ورکښې جاري وه، خادم یو له هغو مبتکرینو څخه دی چه غوښتل یې پښتو تصفیه کړي او پردي لغات ورڅخه وباسي (مګر تر اخره پورې په دې نظر ټینګ پاته نه شو. خدمتګار) په ۱۹۳۷ ع کال چه د پښتو اکاډمي (پښتو ټولنه) تشکیل شوه نو خادم کابل ته راوغوښتل شو او په اکاډمۍ کښې د یوې څانګې د مدیر په حیث مقرر شو او هم یې د (زیري) چارې په غاړه واخیستې. د څلورو

کلونو په موده کښې چه خادم په مرکز کښې تېر کړل د غه لاندې کارونه ورڅخه صادر شول:
د معاصرو پښتنو لیکوالو سوانح یې ولیکلې او چاپ یې کړې یو ډرام یې (یو مسلمان او ټوله اروپا) په پښتو ترجمه کړ. یو کتاب یې (په پښتو نثر کښې تاریخي تطورات او نثر لیکونکو تذکره) د چاپ دپاره تیار کړ. د (پښتانه شعرا) نومې کتاب په جوړولو او ترتیبولو کښې یې برخه واخیسته.
د امین الله زمریالي په ګډون د حکومتي مامورینو د تدریس دپاره یې دوه ټوکه (پښتو کِلي) ولیکلې.
ملي قصو او مضامینو ته یې ادبي رنګ ورکړ.
د اشعارو یوه مجموعه یې (د مرغلرو امېل) د چاپ دپاره تیاره کړه.
او هم یې د (نوي ژوندون) کتاب چاپ کړ. په دې کتاب کښې برسېره د قصو او مضامینو څخه لوستونکي له ورو ورو اشعارو سره هم مخامخ کیږي. په دې کتاب کښې د خادم ډېر آثار او مضامین ځای شوي دي. دا هغه مضامین دي چه پخوا په طلوع افغان، زېري کابل مجله او نورو نشراتي ځانګو کښې چاپ او نشر شوي و. دخادم په دې

مجموعه (نوي ژوندون) کښې چه کوم نثري آثار ځای شوي دي هغه په دريو ګروپو وېشل کيږي:
الف: فکاهي، عبرتي، او اجتماعي قصې: چه دا د شرقي ادبياتو يو مشهور سبک دی.
ب: د مولف خپل اصلي ابتکاري نثري آثار.
ج: اجتماعي مضامين.
له دغو قصو څخه په زړه پورې قصې (پردی خط لوستل) او (د تږي حال) دی. د (ثروت چل) قصه د ټوکو ټکالو په روح ليکلې شوې ده. د دې قصې مضمون داسې دی:
يو وخت يو سړي په اخبارونو کښې اعلان وکړ چه زما د دولت د ګټنې چل زده دی زه دا چل ورېيا د هېواد او خلکو د استفادې دپاره ښيم. هر څوک چه غواړي د دې موقع څخه ګټه واخلي نو په کار دی چه د خپلې سمې پتې سره د ځواب دپاره دوه آنې او يا د دوه انو د ډاک ټکسونه راوليږي. نو ده ته به داسې چل وروښودل شي چه په کاله کښې ناست وي او معقوله ګټه وکړی شي.
په داسې وخت کښې چه ډېر عالم د بې کارۍ او بې روزګارۍ نه سرټکولو، دا اعلان زرګونو کسانو په ډېر شوق سره ولوست او د هر يوه په زړه کښې دا راغله چه څه

بابا دوه آنې څه شی دي ګوندې خدای مهربان شي او په دوه آنو راته پوره دولت لاس ته راشي نو د هرې خوا څخه د سرې په نامه کاغذونه راورسېدل. څو ورځې وروسته سرې په اخبارونو کښې دا بيان خپور کړ:

«د جنورۍ په پنځمه نېټه چه ما د دولت ګټلو د چل د ښودلو په باب اخبارونو کښې اعلان کړی و د هغه په اثر ما ته شپاړس زره خطونه راغلل. هر کله چه زه دې تولو ته په انفرادي ډول ځواب نه شم ورکولی نو حسب الوعده خپل ځواب د اخبارونو په ښولو خپلو منتظرينو ته ورکوم: دا شپاړس زره خطونه چه ماته راغلي دي د هر يوه سره دوه دوه آنې هم دي چه تولې دوه زره کلدارې دي. زه خو د تمام عمر دپاره د مفلسۍ د بار څخه خلاص شوم. د دولت د ګټنې دپاره ددې نه بهتر چل بل چېرې دی؟ دغه دی تاسې ته مې وړيا وښود».

د خادم ځينې عجب نثرونه چه په نوموړې مجموعه کښې چاپ شوي دي په سوچه پښتو ليکل شوي دي د دې جملې نه يو مضمون (د توتکۍ ځاله) او بل (د کوترو کور) دی. لکه چه مخکښې مو وويل خادم يو له هغو لومړنيو اشخاصو څخه دی چه د پښتو د سوچه والي طرفدار دی نو

ځکه کوښښ کوي چه خپل آثار د سوچه پښتو په سبک وليکي او همدا سبک دده په آثارو کښې ليدل کيږي.
د خادم دغه قصه (د کوترو کور) د ۱۹۳۹ ع کال د کانکور دپاره وړاندې شوه او لوړ مفهوم لري.
په دې مجموعه (نوي ژوندون) کښې ځيني آثار د طبيعت د ستاينې دپاره وقف شوي دي او د حيواناتو د ژوند او ددوی د څرنګوالي څخه بحث پکښې شوی دی او د خادم بديعي او هنري آثار چه په نوموړې مجموعه کښې چاپ شوي دي لوستونکو ته ډېر په زړه پورې شيان وړاندې کوي او د دلچسپئ وړ دي. دا آثار د محاورې په ژبه ليکل شوي دي. د متلونو نه ډک دي او اصطلاحات لري. د دې مجموعې ټول مضامين د يوازې پښتو په سبک ليکل شوي دي او په دې موضوع کښې يو تر بله سره کوم فرق او توپير نه لري.
د خادم کوم اجتماعي مضامين چه دلته چاپ شوي دي هغه ډېر په زړه پورې دي او دلچسپي لري. دا مضامين پخپله د ليکوال ايډيال او مفکوره ښيي او هم دده د آثارو متضاد خاصيت ورته څرګنديږي.

خادم د نوموړې مجموعې په يوه مضمون (استعداد) کښې په هغو خلکو چه وايي د ټولې نړۍ علوم او تخنيک د لقمان د معلوماتو څخه اخستل شوي دي او دده په برکت خلکو کمال حاصل کړيدی، سخت انتقاد کړی دی او دا انتقاد يې په ډېره رښتيانۍ لهجه ليکلی دی. په يو بل مضمون (تنګ نظرۍ) کښې دی د پان افغانيست په نظريه ټينګ دی.

(د غمجنو سره په مضمون کښې د بېوزلو او مظلومو سره خپله خواله کوي او دوی ته توصيه کوي چه عفوه کوۍ، صبر او تحمل کوۍ خبره تېروۍ. وروسته بيا دی هغو اشخاصو ته چه سخت سري دي سرزنش ورکوي او رټي يې او هم هغه وګړي د ده د تنقيد او فشار لاندې دي چه نه غواړي خپل خواهش او آرزو څخه په لږه اندازه هم تېرشي.

د خادم دا مضمون يوه ديني محتاطه نظريه ده او دپښتنو د ديني ټولنو افکار پکښې منعکس شوي دي. دومره خبره بايد وويلی شي چه خادم داسې نه دی چه ګوندې يوازې د دغو محتاطو او محافظه کارو ټولنو په زړه پورې اود علاقې وړ شيان ښکاره کوي، بلکه د ده په آثارو کښې

متضـاد تمایـل لیـدل کیـږي او دده د جهـان بینـۍ مهـم تحولات ښیي.
پـه ۱۹۴۱ ع کـا ل کښـې د «اصـلاح» ورځپـاڼې د خـادم د سفر سلسله (څو ورځې په شمال کښې) خپروله. دغـه سفر او سیاحت د کتنـو لیکـل او دغـه ډول مضـامین لـه ډېرې مودې راهیسې په پښتو نشر کښې نه وو خادم یـو لـه هغـو مبتکرینـو نـه دی چـه دا سلسـله یـې شـروع کـړه او خپلـې سفرنامې یې ولیکلې.
بایـد ښـکاره او مسـتقیما ووایـو چـه د ده مضـامینو هـم د موضـوع لـه حیثـه او هـم دخپـل بـدیعي مزیت لـه حیثـه د معاصرو لیکوالو دپاره تر اوسه پورې د سرمشق او نمونې په رنګ خدمت کړی دی.
د خادم د مضامینو ژبه بیخي د ننګرهار محاورې ته نژدې ده او ددغو خلکو په محاوره لیکل شوي دي، په هغـه دوره کښـې چـه خـادم پـه کابـل کښـې کـار کـاوه د ده د دلچسـپۍ دایرې وسعت او انکشـاف پیـدا کـاوه ده د اوسنیو عصري علومو په باره کښې مقالې ترجمـه کولې. د اتومي انرجۍ او فضایي وړانګو په خصوص کښې یې ژباړنې کولې او د ټاګور اثار یې په پښتو ژبه چاپول.

په ۱۹۴۲ ع کال کښې قيام الدين خادم د استقلال جايزه واخيستـه. دا جايزه ده ته لـه دې کبلـه ورکړې شـوه چـه ده دهنـد د يـو معاصـر ليکـوال نيـازفتح پـوري اثـر (د شـريف سرگذشت) د اردو نه ترجمه کړه.

پــه ۱۹۴۷ ع کــال کښــې خــادم يــوه مقالــه ( پښــتانه او پښتونستان ) نشر کړې ده. په دې مقاله کښې ده په ښکاره سره ويلي دي او ټينګار يې کړی دی چه نور آريايي خلک چه اوس په ايران، هند او اروپا کښې اوسيږي د پښتنو نه تلي او جدا شوي دي او اصلي ټاټوبی يې دلته و.

قيام الدين خادم يوه مسلکي مخصوصه مقاله د ښځو د احوال دپاره وقف کړه. دا مقالـه پـه ۱۹۴۸ ع کـال کښــې، هغه وخت چه په کابـل مجلـه کښـې (ښځه د پښتنو پـه نظـر کښې) اقتراح شروع شوې وه نشر کړه.

پـه دې مقالـه کښـې خـادم وايـي چـه پـه افغانسـتان کښـې ښځې هم په ټولنه او هم پـه کـورنۍ کښې د ټولـو حقوقـو نـه بې برخې دي حتی خرخولی شي او بـې لـه کـومې سزا چـه قاتل ته يې راجع شي وژلی شي. خـادم د خپلـې دې مـدعا دپاره چه ښځې د حقوقو نه محرومې دي ښکاره حقـايق او روښـــان دلايـــل راوړي دي او ليکـــي چـــه د پښتـــنو پـــه

ځینو قبایلو کښې د «نکاح» او «طلاق» کلمې نه استعمالیږي بلکه په عوض کښې یې د (وامې خسته او ورمې کړه) کلمې استعمالیږي. خادم په هغه رواج چه (کونډه د لېوره ده) سخت انتقاد کړی دی. دا عادت یې ناموزون ښودلی. په ډېرو مواردو کښې مور او پلار د خپلې لور سره موافقه نه کوي چه په خپله خوښه مېړه وکړي. بلکه تر ټولو لومړی دوی دا فکر کوي چه په څه شان په کومو امکاناتو به وکړای شي چه ډېر ولور لاس ته راوړي. خادم پښتنو ته بلنه ورکړې ده چه دا درانه او بد رواجونه له منځه یوسي او ښځې ته د یوې کورنۍ او د یوې جامعې د غړي په حیث حقوق ورکړی شي او دې کار ته متوجه شي. خادم د مېرمنو د خیریه ټولنې موسسې ته ډېرې هیلې لري او هم یې په ویښ زلمیانو پورې هیلې تړلې دي. د خادم په عقیده دا لومړی ځل دی چه د هېواد په ټولنه کښې د ښځو په حقوقو باندې غور او بحث کیږي. تر اوسه پورې نه اخبارونو او نه مجلو په دې باره کښې خپرونې کړې دي او که چا په دې باره کښې څه لیکلي وي نو هغوی به له ډار نه د تبجن غوندې لړزېدلي وي. خادم د بدبختیو ریښې په دې کښې وینې چه پښتنو د اسلام د



استاد خادم د ملګري هيئت سره .
په عکس کښې عبدالله غمخور ، محمد حسين ارم او
تاجکستانی ميلمه پال سيف الله ليدل کېږي .

پیغمبر د اوامرو نه سرغړولی دی او د شریعت هغه احکام یې پرېښي دي چه د ښځو حقوق پکښې ذکر شوي دي...

خادم له ابتدا څخه د ویښ زلمیانو په ډله کښې شامل و. ده په یوه مقاله کښې چه د زلمیانو دپاره یې لیکلې ده داسې ویلي دي: مونږ د متمدنې نړۍ څخه وروسته پاته یو. هم د سواد له حیثه وروسته یو او هم د صنعت له حیثه. تجارتي چارې مو نورو سره نه دي برابرې او هم مو د ژوند شرایط ټیټ دي...

د قیام الدین خادم د لیکنې سبک او لاز رنګ رنګ او پېچلې ده او د مختلفو موضوعاتو نه بحث کوي. هو! د پښتنو د لویو معاصرو لیکوالو په اثارو کښې تضاد واقع کېدل، کومه تصادفي خبره نه ده (۱).

تر دې پورې په استاد خادم باندې د دکتور ګیرس لیکنه وه.

استاد خادم د ګیرس د هغه کتاب په پښتو ترجمه چه دا لیکنه پکښې شوې ده د نن نه شل کاله د مخه (۱۳۴۷هـ ش) یوه تبصره لیکلې ده، مګر هغه کتاب پروسږ

(۱) ګ. ف. ګیرس – مترجم سر محقق معتمد شینواری – پښتو هنري نثر – کابل ۱۳۲۵

کال، د استاد خادم د مړینې نه اوه کاله وروسته چاپ شو(۱) چه مؤلف (ف. ګ. ګیرس) ته به هم رسېدلی وي. د استاد خادم تبصره په کُلي ډول مثبته ده. په یوه برخه کښې یې لیکي:

ښاغلی ګیرس د پښتو ژبې او ادب هر پل او قدم چه وړاندې اخلي بیا وروسته دی یې تعقیبوي. مګر دا کار دی څنګه کوي؟ ـ د اخبارونو کتابونو او اثارو له لوستلو څخه څرګنده ده چه د هر اخبار، مجلې، کتاب یا نشریې هره ګڼه خو مرتباً هر چېرته نه رسیږي او نه د یو مملکت د ټولو لیکوالو هره مفکوره مرتباً په یو بل مملکت یو مطالعه کوونکي ته رسېدی شي. نو ځکه د یو اثر یا څو اثرونو په لوستلو هیڅوک نه شي کولای چه د یوه لیکوال مفکوره یا ایډیال معلوم کړي او حکم پرې وکړي ... د څو مقالو د لیکلو نه شخصیت معلومول او حکم کول خورا ګران کار دی.

مهمه لا دا ده چه انسان یو متحول حیوان دی. ډېر لوی لیکوال او شاعران داسې دي چه بدل شوي دي او دا چه

(۱) ا. س. ګیراسیموا – د افغانستان ادبیات په پښتو ژبه – مسکو - ۱۹۸۲

سړی د بېزنس په ډول ليکوالي کوي داسې خلک خو په دنيا کښې ډېرخي ډېر دي. نو ځکه په معاصرينو باندې مخصوصاً د هغوی په شخصيت او مسلک باندی د هغوی د اقوالو او ليکنو له مخې رايه ورکول له اشتباهاتو څخه خالي کار نه دی.

زما په خپله د ښاغلي ګيرس کار ځکه خوښ دی چه صاف، ستره، بې ريا او صريح دی. کومه ليکوالي چه انتقاد نه لري، مګر د خوشامدګرو ادب وي؟

ښاغلی ګيرس زما په ليکنو کښې کله کله تضاد ويني خو که ما سره مخامخ کښيني ښايي چه له ما څخه داسې دلايل واوري چه قانع شي. تر ټولو لويه خبره دا ده چه د ټولو انسانانو تحليل او استنتاج خو په يو قسم نه وي...

**د استاد د آثارو ببلګې:**

د يو شاعر او ليکوال اصلي او اساسي پېژندنه د هغه په اثارو کيږي. «زمونږ اثار په مونږ دلالت کوي»

د استاد خادم اثار ډېر دي. زمونږ لوستونکي به هغو ته مراجعه وکړي. دلته يو څو ببلګې ښيو. يوازې دود په ځای کوو.

«د اخبار وظیفه» څکه تر ټولو د مخه راوړو، چه په دې کښې ژورنالیزم په تېره بیا ورځپانه د استاد له نظره وښیو او اهمیت یې څرګند کړو»

کنفرانس:

## د اخبار وظیفه

اخبار د مدنیت له اثارو څخه ډېر لوی او مهم اثر دی. تر څو پورې چه انسان د خپلې ارتقاء د مدارجو انفرادي دوره طی کوله د تهذیب مدنیت منزل ته نه و رسېدلی، د هغه وخته پورې اخبار او مطبوعاتو هم وجود نه لاره. کوم وخت چه په انسان د انفرادیت دوره تېره شوه او په ټولنه او اجتماع کښې داخل شو او په اجتماع کښې هم د کلي، قریې او قبیلې له حدودو څخه د قومیت، وطنیت او په اخره کښې د انسانیت معیار ته ورسېد او دده فکر دومره وسعت ومونډ چه په دغو مفهوماتو پوه شي نو اول خط او کتابت او وروسته اخبار او مطبوعاتو ظهور وکړ.

لکه څنګه چه اخبار او مطبوعاتو د مدنیت په دوره کښې بروز کړی دی، دغه رنګه یې د مدنیت او تهذیب په نشر او د اجتماع او ټولنې په تحکیم او توسعه کښې هغه برخه اخستې ده چه د مدنیت او ټولنې نور مظاهر او اسباب

ورسره برابرتيا نه شي کولی. وايي چه رومبی اخبار چه وتلی دی تقريبا دري زره کاله دمخه له چين څخه وتلی دی. د چاپ او خط د پيدايښ فضيلت چه څرنگه چين او ايشيا ته منسوبيږي دا رنگه د اخبار د زيږيدو فضل هم چين او شرق ته راجع دی. مشرق د انسان د پيدايښت زانگو ، د مدنيت او تهذيب مسقط الراس دی . دغه وجه ده چه کوم وخت، پيغمبر اخرزمان د علم د تحصيل تاکيد کوي نو فرمايي: « د علم طلب کوئ که څه هم په چين کښې وي .»

په وروستيو اعصارو کښې چه مغرب د علم، تهذيب او مدنيت دوستئ بيرغ په لاس اوچت کړ او علومو، فنونو، اختراعاتو د برق په شان ترقي وموندله په دې کښې هيڅ شک نشته چه اخبار او مطبوعاتو په دې لاره کښې ډېر لوی خدمتونه کړي دي او که ووايو چه که اخبارونه او مطبوعات نه وای نو انسان به دغه ترقئ ته هيڅکله نه وای رسيدلی .نو دا خبره به بې ځايه نه وي .

نو اخبارونو ته په معمولي سترگو کتل نه دي په کار، ځکه چه اخبار فرد او جماعت، قوم او وطن، علم او عقل، تهذيب او مدنيت، اتحاد او يووالی، ايجاد او اختراع،

انسانیت او اخلاقو ته هغه فواید رسولی شي، چه د روښن خیالۍ بله یوه ذریعه هم ورسره نه سمیږي. معارف، راډیو، سینما، کتابخانې او سیاحتونه هم دعلم او عرفان، مدنیت او تهذیب او روښن خیالۍ د نشر او اشاعت مهم اسباب بلل کیږي، مګر نه د اخبار په اندازه. یو خو له دې جهته چه که اخبار نه وای پیدا دغه یو هم میدان ته نه شو راتلی، بل له دې جهته چه د مکتب تحصیل د خاص عمر او وخت پورې تعلق لري. د راډیو اواز د مخصوصو خلکو له خولې راوځي او هر غوږ ته یې رسېدل هم مشکل دي. د سینما کتونکي که پخپله بدسلیقه وي ممکنه ده چه د فایدې په ځای بده نتیجه واخلي. کتابخانه د وزګارو او بېغمو خلکو سره مرسته کولی شي او په مطالعه کښې مهمه خبره دا ده چه که مطالعه منظمه د پروګرام لاندې او دیو نصب العین دپاره نه وي، کېدی شي چه چندان مفیده واقع نه شي.
سیاحت خو معلومه ده چه ډېر مشکلات لري او هر چا ته نه میسرېږي. مګر اخبار هر چاته په هر عصر کښې، هغه مسایل ورزده کوي چه ارومرو هغه ته فایده رسوي. د اخبار په مطالعه کښې لویه فایده دا ده چه په اسانه او عام

فهمه ژبه هر قسم معلومات د وخت د اقتضاء سره سم نشروي. که سړی څه موده په خپل روزمره ژوند کښې د اخبارمطالعې ته وخت ورکړي نو خپل عقلي او دماغي احاطه کښې به ډېر لوی وسعت وګوري.
څه رنګه چه هر فرد د خپل مادي حيات د هرې خوا په تامين مجبور دی او د آخرې سلګۍ پورې د دغه مدعا د حصول دپاره کوښښ کوي بايد د معنوي قواو د تربيت او پالنې دپاره هم هماغومره کوښښ او زيار په ځان لازم وبولي، ولې چه مادي حيات بې د معنوي فضايلو څخه نيمګړی شی دی. ډېر داسې کسان شته چه معنوي ترقياتو ته په مادي هغو باندې ترجيح ورکوي. لېکن داسې کسان به هيڅېرې نه وي چه يوازې مادي حيات خوښ کاندي او له معنوياتو څخه سترګې پټې کړي. د دغه معنوي حيات د تامين دپاره بهترين شی د اخبار مطالعه ده. هو ! د اخبار د مطالعې دپاره تر يوه حده د علومو مبادي بايد تحصيل کړی شي.
فرد لکه څنګه چه د خپل کور، کلي، سمت او وطن سره مربوط دی دغه شان د دنيا او عالم سره هم د ده د حيات سرنوشت اړه لري. دی بايد لکه څه قسم چه د خپل کور

وکلي، سمت او وطن د علمي، ادبي، اخلاقي، صناعتي، صحي، اجتماعي حالاتو څخه باخبره وي په دغه ډول لازمه ده چه د دنیا د روزمره سیاسي تغیرونو، علمي او اختراعي پېشرفتونو، اخلاقي او اقتصادي اوضاعو څخه مطلع وي.

ممکنه ده چه ځینې کسان ووایي چه که سړی د دغه خبرو نه واقف نه وي نو څه کیږي؟ د دې سوال جواب ډېر مخکښې شوی دی: «ایا هغه کسان چه علم لري او هغه کسان چه بې علمه دي دا ګوندې برابر دي؟» (۱) یعنې عالمان په بې علمو ډېر فضیلت لري.

داسې کسان هم شته چه هغوی په اخبارونو کښې صرف اطلاعات او عجایبات لټوي او همدغه د اخبار وظیفه ګڼي. مګر دا هغه کسان دي چه د اخبارونو مطالعه یې په صحیح ډول نه ده کړې او ښه عمیق شوي نه دي. هو! اخبارونه اطلاعات او عجایبات هم نشروي، مګر د اخبار تر ټولو وروستنۍ وظیفه شمېرل کیږي، اخبارونه هغه ټول سمتي، وطني، او د دنیا حوادث، افکار، نهضتونه او

(۱) داد قران کریم د دې آیات ترجمه ده چه فرمایي:
«هل یستوی اللذین یعلمون واللذین لایعلمون ط»

پښرفتونه او هر هغه څه چه قوم ورته احتياج لري په اسانه ژبه قوم ته رسوي. ښځې په کورونو کښې، هلکان په مکتبونو کښې، مامورين په دواېرو کښې، کاريگران په کارخانو کښې، اهل صنعت او حرفت په خپلو معملو (۱) او د کار په ځايو کښې له دغو مفيدو نشرياتو څخه خپل علمي او ذماغي تربيت دپاره استفاده کوي.

په مغربي ممالکو کښې د اخبار مطالب د هر فرد د پاره، ښځه وي که نر، ځوان وي که زوړ، د دهقان څخه تر عسکر او فيلسوفه پورې، د دوی په روزانه حيات کښې وخت لري. لکه څنگه چه خوب او خوراک څوک نه شي پرېښودی، دغه رنگه د اخبار مطالعه هم نه پرېږدي.

په اخبارونو کښې معارف، اقتصاديات، صحيات، د ژبې او ادب پالنه، اخلاقيات، اجتماعيات، علمي او فلسفي مباحث، تاريخ، مشاهير، قصص او روايات، د دنيا تغيرونه او سياسيات، د فنونو او اختراعاتو مخکښې تگ چه د وخت او زمان په تطبيق د يو قوم ذهني او مادي ارتقا ته فايده رسوي، دا ټول موجود وي. لنډه دا چه د

(۱) معمل معلمه - د کار ځای، کارخانه، فابريکه - د مفعل، منصب پر وزن.

حیات د حرکت او تقدم حامل اخبار دی. دا حرکت او تقدم چه د ژوند په هره پهلو او هره ډډه تعلق لري اخبار پکښې سرعت او تېزي پیدا کوي. او په کومه جنبه کښې چه رکود وي اخبار وظیفه دار دی چه هلته فعالیت پیدا کاندي.

اخبار د یو قوم د عقل، فکر، نفس، ذوق او خیال د تربیت دپاره پس له معارفه تر ټولو ړومبی او مهمه ذریعه ده.

اخبار د یو قوم او ملت ژبه ګڼل کیږي. کوم قوم او ملت چه ازاد جراید نه لري هغه بې زبانه ملت حسابیږي. څکه که انسان په ژبه او خبرو تر نورو حیواناتو امتیاز لري نو په اجتماعي صورت دا ژبه اخبار دی.

جلال آباد ـ ۱۳۲۱ (۱)

بډې

د پښتو یوه کلمه ده غواړو چه په دې کلمه باندې اصولي بحث وکړو:

---

(۱) دا کنفرانس په جلال آباد کې اورول شوی او بیا په «اتحاد مشرقي» کې خپور شوی دی. په «نوې رڼا» (۱۲-۱۲ مخونو) کښې هم چاپ شوی دی ـ کابل ۱۳۴۳.

د یو فاضل قاموس نګار د خولې بیان دی چه بډې رشوت، موک او رشپیت ته وایي. د یو ښاغلي فیلولوجیست څخه مې په یاد ده چه بډې بډایۍ نه جوړ شوی دی ځکه چه بډایي د تمول او شته منۍ په معنا ده او په بډو هم سړی شته من کیږي.
لیکن د مولانا رجب خان مرحوم غفرله په خاص بیاض کښې یې راوړي چه «بډو ته ځکه بډې وایي چه اخستونکی یې پس له دې چه په لستوڼي کښې یې پټې واخلي نو د تفتیش او بازپرس د ورځې له وېرې یې دستي په بډه کوي.» د مولانا دا بیان که څه هم په یو دقیق منطقي بنیاد مبني دی لیکن د دوی د ځینو رشیدو شاګردانو له پلوه چه شاید ښاغلی طلب خان وي د انتقاد لاندې نیول شوی دی لکه چه وایي: «ممکنه ده بډې خور دې بې پرتوګه وي په داسې شان چه یوازې پتلون دې یې اغوستی وي نو هلته خو دا بیان نه صحیح کیږي». ولې د دې سوال ځواب د ځینو نورو علماو له خوا داسې ورکړ شوی دی چه د پتلون او کرتۍ جېبونه د لاسي بکس قاتونه، د چېنې غوږۍ دا تېول د بډو کار ورکوي. هو ځینې نور صورتونه لکه دکانداران، آشنایان، روشناسان، ملکان،

چپراسيان، چه د دوی په واسطه اختتل کيږي .دلته تسميه د کُل ده په اسم د جز ، يا دا چه د اقل لره حکم د اکثر دی . انتهی چه د ځينې عصري علماو په نظر چه هغوی په اجتماعياتو او فلسفه کښې توغل او پېجش کوي. بډې د يو مهلک اجتماعي او مدني مرض نوم دی چه قومونه او ملل تباه کوي. دا مرض چه په هر فرد ولګيږي نو د مرض د شدت او ضعف په لحاظ سره چاره د مريض لاس لنډول، او عمري د ډلې نه بېلول او احياناً د کوتکو په واسطه چاپي کول او دهغه دارايي ضبطول دي. چه په دغه واسطه سره مرض نورو روغو کسانو ته سرايت ونه کړي .

سره د دې پورته فاضلانه تحقيقاتو مو د دې دپاره چه مضمون تکميل شي د بناغلي اديب عجب خان خريطة الجواهر په دقت مطالعه کړه او دا لاندې بيان مو ترې اقتباس کړ:

بډې هغه پيسو او ګټې ته وايي چه يو رسمي ماموراو موظف يې پرته د خپلې مشاهرې او معاش نه د خپلې وظيفې په اجرا يا پايمالئ له خلکو اخلي. نو که دا اخذوجر د وظيفې د اجرا په صورت کښې وي يعنې يو مامور تر

هغه پورې د يو سړي کار نه اجرا کوي چه تر ځو ترې پيسې وانه خلي نو دا خو بده دي. ليکن که يو مامور پيسې واخلي او حق ناحق کړي يا خپله وظيفه غلطه اجرا کړي نو پيسو اخستلو ته بدې او غلطي اجرا يا اهمال ته غدر او خيانت وايي . »

وګورو چه نور فضلا په دې باب کښې څه فکر لري؟

جلال آباد ـ ۱۳۲۳ (۱)

---

(۱) په دې طنز کې له ملايي اصطلاحاتو څخه هم کار اخستل شوی دی ، دا هم اول په ((اتحاد مشرقي)) او بيا په ((نوې رڼا)) (۸۲-۸۷) مخونو کې چاپ شوی دی .

## خیر خیریت دی

چېرته د یو لوی کور یو مشر و. ده خپل لوی کور د یوې څنډې د غمخورګۍ د پاره یو سړی هلته وټاکلو او ویې لېږلو.

رالېږل شوی سړی د آغا او حکمدار په مغرورانه وضع راغی او په یوه عالیشانه او ښکلې ماڼۍ کښې کښېناست او په ځان یې پیرې ودرولې.

کله چه دا غمخور او بازخواست کوونکی د وړاندې وروسته محافظینو په منځکښې د ماڼۍ له دروازې راووت د خوارانو مظلومانو داد خواهانو تیپونو به ورته د سړک له هرې خوا د خاورو څخه سرونه راپورته او هرچا به په زړه کښې زرګونه عرضونه تکرار کړل. ده به چه دې دومره خوارو لغړو ته وکتل، نو د رحم په ځای به یې قهر راغی. مګر د پسرلي د برېښنا په شان به یې کله خلکو ته وخندل او کله به د رعد غوندې وغړمبېد او په توندۍ به تېر شو.

منتظرینو به یو له بله پوښتنه کوله: ومو لید؟

چا به ویل: ما ولید، خو چا ورپرې نه ښودم.

چا به ویل: ما ځان ورورساوه کاغذ مې ورکړ خو دی په قهر شو او کاغذ یې څیرې کړ.

په دغه شان خلک په تمه و او دی بی غمه . (۱)
ده د ا فکر کاوه «چه سر دې نه خوږېږي داغ پرې څله ږدې»
(۲) رښتيا چه دا هغه سر نه ؤ چه د نورو په درد خوږېږي.
ده په خپل تش کدو سر باندې خولۍ تينګه کړې وه او نظر
يې په بل څه ؤ. او ددې مطلب دپاره ده ښه سنجش کړی و.
تولو د زور او غرض خاوندانو سره يې جوړه وکړه او په دغه
شان يې لېوان په رمه کښې خوشې کړل . هرې مېږې چه به
رمباړه وهله هغه به يې ماتوله مخکښې په تړلې انګړ
کښې مېږې او لېوان ګډوډ وو. يوازې دی بيرون ؤ او
مراقبت يې کاوه چه اواز د باندې ونه وځي .
د کور مشر له دې غمه بې غمه نه ؤ هغه به همېشه پوښتنه
کوله : « څه حال دی ؟ » ده به ويل: « خير خيريت دی » چه
هغه به څوک راولېږه چه خير خيريت معلوم کاندي ده هغه
به د وخته پېژندلی ؤ او په يوه غټه مړۍ به يې د هغه خوله
بنده کړه.
د کور خاوند ، نه پوهېږم ولې؟ د ده نه هېڅکله دا پوښتنه

(۱) زه په تمه ، ته بې غمه (پښتو متل)
(۲) پښتو متل.

ونه کړه چه تا څومره مظلومان د ظالمانو له پنجې نه خلاص کړه؟ څومره وږي، بربنډ، بېکاره، دې د کار په واسطه پټ او ماړه کړل؟ څومره ناپوه او بې سواده دې پوه او با سواده کړه؟ څومره بې کوره خلکو ته دې کورونه، او څومره بې جایدادو ته دې جایداد پیدا کړل؟ څومره خرابې دې آبادې کړې؟ څومره مرضونه دې دفع او د څومره کونډو یتیمانو غم دې وخوړ او څه قسم اصلاحات دې وکړه!

د ده دې ته هم فکر نه شو چه ووایي: راهیسې که تاسره پخوا څو پیسې وې او اوس درسره څو دي؟ او دا دې له کومه کړې؟

دا راز هغه وخت افشاء شو چه لوی کور سپېره ډاګ شوی ؤ او ددې کور په هره خوا کښې همدغسې وضیعت جوړ شوی ؤ او ټولو یوه اتحادیه جوړه کړې وه.

اوس نو د دې (شر) دفع یوازې د کلک ایمان په قوه کېدی شوه او بس.

کیلغو ـ ۲۵ اسد ۱۳۲۹هـ ش (۱)

---

(۱) دې پارچه کښې زیات سمبولونه کارول شوي دي. سیاسي، اجتماعي انتقاد په کې نغښتل شوی دی. ستاسو توجه د «کور» سمبول ته اړوم چه د «هېواد» لپاره راغلی دی. نور سمبولونه تاسې ته پرېږدم. دا نثر اول په «اتحاد مشرقي» کښې او بیا په «نوې رڼا» (۱۰۲-۱۰۸) مخونو کښې چاپ شوی دی.

## طلايي زنځير

« په دې فولادي پنجره کښې زه ولې اچول شوی يم؟ آخر زه خو هم انسان يم او آزاد انسان . »

بندي سور اوسېلی واېست او دا پورته جمله يې ووېله .

بنديوان: دا نو ته ولې پنجره ګڼې؟ دا خو ستا کور دی .

بندي: نه. نه. دا کور نه دی، دا ګور دی.

بندي: دا نو زه څنګه کولی شم چه په خوړو او درد اخته اوسم او خوږ نه شم؟

بنديوان: خوږ او درد څه معنی؟ زه نه شم پوهېدای چه ستا مراد څه دی؟ او آزادي ته څه شي ته وايې؟ د خوب په وخت خوب او د کار په وخت کار کولو کښې آزاد يې، نور نو څه غواړې؟

بندي: ته خو وينې چه په مونږ څه حال دی؟ وګوره کنه.

بنديوان: که وږی يې دا خو خدايي کارونه دي. توبه وباسه او خدای ته راجع شه.

بندي: دلته يوازې د ډوډۍ سوال نه دی. ډوډۍ که د اوربشو وي که د ږدنو مګر خبره دا ده چه زه خو هم انسان يم او آزاد پيدا شوی يم. نو دا چاپېره د فولادو سيخونه د

څه دپاره دي؟ زه ولې په خپله خوښه خپل خير وشر نه شم ټاکلی، آخر زما ګناه څه ده؟ او قصور مې څه دی؟

بنديوان: ما خو تاته ويلي و چه خپل کار کوه چتمي خبرې څه فايده کوي؟ «چه نه کار هلته څه کار؟». (۱)

بندي: زه اوس پوه شوی يم زما ړومبی کار دا دی چه خپل ځان او خپل ورونه له بنده خلاص کړم او آزادو مرغانو غوندې آزاد والوزم.

بنديوان: ګوره، ستا اخلاق خراب شوي دي. که وانه وښتې، سخته سزا به درکړی شي.

بندي: د حيات خوند آزادي ده. زه له آزادۍ محروم يم. د دينه به لاسخته سزا بله څه وي.

بنديوان: دې بندي ته سزا لازمه ده نيسئ يې!

بندي: بنديانو ورونو ! هلئ فولادي سيخان مات کړئ!

...وزئ ! تاسو آزاد انسانان يئ فساد مه کوئ او اصلاح ستاسو کار دی...

(پنجره ماته شوه او بنديان راوواته.)

يو بندي: اوس به څه کوو؟

بل بندي: اوس به څو که نه.

---

(۱) پښتو متل.

دریم بندي: چېرته به ځو؟
څلورم بندي: د سعادت سرحد ته.
پنځم بندي: نو ځئ چه ځو. بسم الله!
ټول بنديان: آه زمونږ په پښو کښې خو زنځيرونه دي.
د بنديانو مشر: آه! دا زنځير خو زما په پښو کښې هم دی.
(آه دا خو مونږ په خپلو لاسو جوړ کړی «طلايي زنځير» دی).
د بنديانو مشر وويل او بيا ټول غلي شول.
سنبله- کابل- ۱۳۲۸ (۱)

## د ښاغلي غبار په ياد

ښاغلی غلام محمد خان غبار، چه څو ورځې مخکښې وفات شو، د وطن قوي ليکوال، دافغانستان د تاريخ لومړنی محقق او يو وطندوست شخص و. د ده په زړه کښې رښتيا د وطن مينه موجوده وه.
۳۴ کاله مخکښې چه زه د (اتحاد مشرقي) د اخبار مدير وم، ما په اخبار کښې د ده (تاريخچهٔ مختصر افغانستان) نشروله. زما په عقيده دا د افغان په تاريخ کښې لومړنی

(۱) دا نثر اول په راډيو کښې اورول شوی، بيا (پښتو متا ثره) د پښتو نثرونو مجموعه کښې اخستل شوی دی او وروسته د استاد خادم (خيالي دنيا) - کابل ۱۳۳۹ - ۸ مخ کې چاپ شوی دی.

اثر ؤ. او په دغه لحاظ به مرحوم غبار ته د افغانستان د تاریخ پلار ویل ببخایه نه وي.
د ده خبرې موثرې وې. دی د افغانستان د ادبي رنسانس له موسسانو څخه حسابېدی شي.
په ژوند کښې هم ما د ده د علم او وطندوستئ تقدیر کړی دی. او حقدار سرې مې ګاڼه. که څه هم تر منځ مو ایدیالوژیکي اختلافات موجود و.
خدای دې یې وبخښي. او رحمت دې وي پر ده.
(ننګرهار، ورځپاڼه-د ۱۳۵۲ د دلوې ۲۵ مه)

## د ښکلاوو جهان

هېڅ غمـــونه پکښې نشتـــه د خوښۍ ډکـــه فضـــا ده
خلک وايي چېـــرته لېـــرې يو جـــهان دی د ښکــلاوو

(۱)

ګلان شتــه دي بــې اغــزيه خمــر شتـــه دی بې خــماره
ايينې د زړونو صـــافـــې دي لــه زنــګ او له غبـــاره
هر سړی پـــه خپلـــه ژونـــد کا خـــو د بل رضـــا دپاره
يـــار لـــه يـــار سـره يـــاري کا ګټـــه نه کـــوي له يـــاره
ژوند همدغه دی خـــو هلتـــه د ژونـــدون بلـــه معنـــا ده
خلک وايي چېـــرته لېـــرې يو جهـــان دی د ښـــکلاوو

(۲)

هېڅ غمونه پکښې نشتـــه عجيبـــه شانـــې جهـــان دی
په کينه څوک نه پوهيږي خـو يـــو عشـــق د انســـان دی
تل خوښي ده خوشحالي ده هر سړی پکښې کامران دی
هره ورځ د وصل شپه ده ناآشنـــا پکښـــې هجـــران دی
اوړی ژمی پکښـــې يـــو دی په يـــو شـــانې يـــې هـــوا ده
خلک وايي چېـرته لېـــرې يـــو جهـــان دی د ښـــکلاوو

(۳)

دنګې دنګې لوړې لــوړې ماڼــۍ هــر چېــرتــه ولاړې
ټول باغونه کروندې دي نشته چېــرته زمکــې شــاړې
د ارم ښاپېرۍ ګرځــي تکــې سپينــې ځګــې غــاړې
ســرې خــولګــۍ لکه د زرګو ښويه پيــه لکــه خــراړې
يارانــي دي تمــــاشــې دي د رقيــــب خـــونه تالاده
خلک وايــي چېــرته لېــرې يو جهــان دی د ښــکلاوو

(۴)

نه مرض نه مفلسۍ شتــه نه ظالــم او نه مظلــوم شتــه
چه څه دي سم سمکي دي نه حاکم او نه محکـــوم شته
نه ضرر او نه آزار شتــه نه د بــدو چېــرته نـــوم شتــه
هر يو کس پخپله ژوند کا نه خادم او نـه مخـــدوم شتــه
کار د هــر چــا وظيفـــه ده بــې تکليفــه مشغــولاده
خلک وايي چېرته لېــرې يــو جهـــان دی د ښــــکلاوو

(۵)

د وطـــن دپــــاره کار کا نــازنينــــې مـــلک خـــويـه
شکـــر لبــې مـــه جبينــې عنبرينـــې سنبــل مــويه
نرمې نرمې پاکې پاکــې ښکلــې ښکلــې خنــده رويه
تويــوي ګلان لـــه خولــې نه ګل خندانـــې سمـــن بويه

د ژوندون صحنه تمامه تماشه ده سینما ده
خلک وایي چېرته لېري يو جهان دی د بنکلاوو

(۶)

نر او ښځه هلته دواړه يو خاوند بله مېرمن ده
واک د ځان د هر چا خپل دی له قديمه نه چه نن ده
ژوند په مينه همکاري ده د اجبار تسوله لمن ده
ښځه کله د چا نه ده بلکه (مير) او (مهرمن) ده
يو سکون دی، تسلي ده، د ژوندون يوه موسکا ده
خلک وايي، چېرته لېري، يو جهان دی د ښکلاوو

(۷)

رقابت خو پکښې شته دی، خو د علم او د کمال دی
سړيتوب هلته معيار دی چه سړی وي هغه سيال دی
تول د هر سړي معلوم دی، که خوردی او که مثقال دی
يون د ټولو يو طرف دی، يو هدف يوبې ايډيال دی
هلته کفر بې کاري ده، ناپوهي لويه بلا ده
خلک وايي چېرته لېري يو جهان دی، د ښکلاوو

(۸)

هېڅ بې پلاره پکښې نشته هر يو مشر هلته پلار دی
هره مشره ښځه مور ده عجيبه شاني روزگار دی

د مېړه په لاس کېنبې نه دي په خپل لاس د ښځې کار دی
داسې نه چه ګونډې ښځه او ماشوم د اوږو بار دی
غم خوړ شوی دی له سره له غمو خالي دنيا ده
خلک وايي چېرته لېرې يو جهان دی د ښکلاوو

(۹)

نه آهونه شته د کوندو نه ژړا د يتيمانو
نه دعوې نه مدعي شته نه پروا د حاکمانو
طبيب ګرځي په ناروغو نه ناروغ په طبيبانو
د خوارۍ مخنيوی شوی، چاره شوې د خوارانو
په هر زړه کښې بل دپاره د خوښيو تمنا ده
خلک وايي چېرته لېرې، يو جهان دی د ښکلاوو

(۱۰)

د ډېر سرونه يو يې فکر د ډېر لاسونه يو يې کار دی
ترقي يې مدعا ده چېرته کلی او که ښار دی
په يوه اتفاق درومي جوړ د زانو يو قطار دی
د مشرۍ دپاره فکر او عمل هلته معيار دی
په وينا د ډېرو خلکو د مشرانو امنا ده
خلک وايي، چېرته لېرې، يو جهان دی د ښکلاوو

(۱۱)

یوه نوې جـامعـه ده او یــو نــوی یــې انســان دی
په همدې زمکه اوسیږي خو اوچـت لکـه اسمـان دی
په یو فکـر خـو روان دی خـو دا فکـر هــم روان دی
هم ثابت دی، هم سیار دی، لکـه خپلـه دا جهـان دی
له قومـو یــې جـوړه شــوې د وحــدت لــویه بنـا ده
خلک وایي، چېرته لېرې، یو جهـان دی د ښـکلاوو

(۱۲)

لکـه کــوچ دا جـامعــه ده چــه وتلــې لـه شـودو ده
گبینــې دي د عسلــو ډکــه پکــه لــه خــوږو ده
نتیجــه د واړه فـکــر او د انســان د فـلسفــو ده
ودانــي او ارتقـــا یـــې و انســـان وتـــه ارزو ده
د تــاریــخ د ارتقـــاء د مـــراحــلــو نــــه پیــدا ده
خلک وایي، چېـرته لېـري، یو جهـان دی د ښـکلاوو

کابل ـ د ثور اول ۱۳۴۱ ـ (۳۳)

## د خلکو خدمتګار

زه څه ووايم چې څه او د څه کار يم؟
خو د تللې قافلې د پښو غبار يم
د فطرت باغوان کرلی يم پخپله
په دامان کښې غوړېدلی لاله زار يم
څانګې نه راماتوم چه مېوه وخورم
چه مېوی نشاروي هغه شا خسار يم
ګلان اخلمه د ګلو په بدل کښې
سوداګر نه يم د ګلو خريدار يم
ماڼو نه يم چه د بل په اوږو سپور ځي
د کشتۍ غوندې د خلکو باربردار يم
زه يرېږمه چه څوک رانه ازار شي
څه که خپله زه له خپلو نه ازار يم
عشق او مينې په يو هسې ځای قايم کړم
خوښ پتنګ او سمندر غوندې په نار يم
د سرو شونډو او سور مخ له ډېرې مينې
منت باره د ګلشن او د انګار يم
چه له ښکلو ځنې طمعه د وفا کا
ما ده لوحه روهيلی د ننګرهار يم

بې له عشقه مې څه عیب او څه ګناه ده؟
معترف په دغه تور د توره دار یم
که په لاړ د عشق کښې وژاړم و چا ته
په ربښتیا به دروغجن په دې اقرار یم
د خودۍ او خود دارۍ له برکته
په ګومان د ډېرو خلکو دنیا دار یم
طوفانونو جکړونو ته د دهر
چه سر نه ښکته کوي هغه کهسار یم
مخ مینځې د ګلو کړم لکه د پرخې
ساتندویه د خپل بوټي لکه خار یم
آزاده یم له همه وارو قیدونو
بې له دې چه یم سړی او سړي چار یم
که څوک مینه مرض بولي نو ښه که
زه د مینې په مرض باندې بیمار یم
زړه مې پټه خزانه ده د لعلونو
پروت په خپله خزانه لکه ښامار یم
یا مهتاب یم یا افتاب تندر نیولی
یا چه ځان ته سوزي شمع د مزار یم

کاروانــونه قــافلــې لاړې په مخکښــــې
په ایرو کښې ترېنه پاته سور انګار یم
چه د تللي کاروان پل ګوري په شپه کښې
وهغــو ته لکه ستــرګــه د سهــــار یم
چه معــراج د سرېتــوب ته ځــان زینــه کا
زه خادم د هغــو خلکو خــدمتګار یم

کابل-خادم مینه-د جدي ۲۲ - ۱۳۳۰ هـ. ش

## خان بابا عبدالغفار خان

د پښتـــو او پښتــــنو بــــه لاڅــه حــال ؤ؟
کـــه تــه نــه وای ای بــابــا فخــر افغانــه
دا د چا په غږ ويده پښتــون راويـــښ شـــو
مــارگلــې نــه تــر هــرات او بــدخشـــانه
د تــکل په لاره ډار لـــه هيڅــا نــه شــوې
اولـــو العـــزمـــه بـــهــــادره پهلـــوانه
د همـــت تخـــم دې وکاره په ملک کښـــې
پښتونخوا دې پــه بــل رنگ کړلــه ودانه
په افغان کښې دې د مينــې مشـــال بـل کړ
پلـوشــې يــې پــورته کيــږي تر آسمـــانه
د پښتون تـوره د ورور پــه وينــو رنــگ وه
د خپــل قــام په تبــاهــۍ يـــې وه مېــړانه
کټاري يــې وه تــر مــلا ټــوپک پــه ولـــې
د تـــربـــور د مـــرگ دپاره ســر گــردانــه
تا يې تـوره ټـوپک واخيســـتل له لاســـه
د تربور کـــور ته دې بــوتللـــو پښيمـــانه
دښمنـــــې دې پــــه ورورۍ کړلــــه بدلــه
لاربنــــوونکيـــــه راهنمـــــايه مهـــربانـــه

د خدایـــي خــــدمتـــګارئ پیغـــام دې راوړ
هـــدایــــت و پښتـنـــو تــــه لـــه آســـمـــانه
تــه دښمـــن د استعمـــار او استبـداد یـــې
رحمتــــونــه دې پــه تـــا وي لـــــه رحمـــانه
ته به مړ شې، مونږ به مړه شوو تول به مړه شي
د پښتون نوم بـــه ورک نـــه شـــي لـه جهـــانـــه
اباسینـد بـــه پـــه مستـــئ مستـــئ بهیـــږي
غـــورزوي بـه سپیـن ځګـــونه لـــه دهـانـــه
سپینـــې واورې بـــه پـــه لـــوړو غـــرو وریـــږي
لــــه پـامیـــره تـــر خیبـــره تـــر کاغـــانـــه
کاروانــــونــــه بـــه چلیـــــږي تـــل تـر تلـــه
له آمـــو نـــه پــــه خیبــر تر هنـــدوستـــانـــه
په بـل شـــان به تاریخــــونـه لیـــکل کیـــږي
وي هیــر شـــوي بـه وختــونه لـــه هـر چـانـه
خو ستـانوم بـه د پښتـــون په خـــولـــه یادیـــږي
څـــو چــــه وي د پښتـــنو خـــونـــه ودانـــــه
په جامه د پښتـــانه کښې لـــوی انســـان یــې
ته افغـان یـــې خو خیـــرخـواه د کل جهـــان یې
کابل- ۱۰ د جدی ۱۳۴۳ - (۱)

(۱) ځاروان - ۱ - ۱۲۰ مخونه.

**له يوې اوږدې منظومې څخه څو بنده:**

ژورنالېست (۱)
چه څوک ليکي اخبار
اديب راځي په شمار
نور مه کوه ګفتار
که نيت يې په دې کار کښې ويښول وي د ملت
د خدای دې وي رحمت
که تش ګټه د ځان کا
ناحقه پوچ بيان کا
نو خپل ايمان به زيان کا
په خپل تيټ وضيعت باندې به ځان کاندي ښکه
رذيل به وي بې شکه
رښتيا رښتيا به وايو
ښه بد به يکښې ستايو
هر چا و ته به نما يو
چه ښن لا ښه دوره ده په وطن له هر محاله

(۱) عنوان د «خدمتګار له خوا ورکړ شوی دی.

خبر شه له احواله
چه څوک کوي خدمت
په صاف ښکلي نیت
د قام او دملت
سلام په داسي ویښ زلمو خادمه مقدم دی
د خوږ زړونو ملهم دی

۱۳۲۲-(۱)

(۱) د مرغلرو امیل – ۸۹-۹۰-۹۱ مخونه او ځاروان ۳-۱۳۰ مخونه.

## غزل

زړه مې بېشـــانه ناکـــرار دی، څنګـــه وکـــم ؟
د تـــورو زلفـــو تـــوره دار دی، څنګـــه وکـــم ؟
☆☆☆
یو پلـــو اور د عـــاشقـــۍ دی ســـوزمـــه پـــرې
بل خوا پښتو او ننګ و عار دی، څنګـــه وکم؟
☆☆☆
لکه پاره ستـــا و بنګلـــو وتـــه زړه مـــې رېـــي
مخ دې لمبه ده سور انګار دی، څنګـــه وکـــم؟
☆☆☆
زه عنـــدلیـــب یمـــه د ګلـــو ســـود لرمـــه
هلته د ګل په خوا کښې خار دی، څنګه وکـــم؟
☆☆☆
شاهه، خولګۍ، دې خزانه ده سوالګر دې یمـه
خو سور پېزوان دې پیره دار دی، څنګـه وکـم؟
☆☆☆
هلته اشنـا مـې بېـــګانه شـــو پـــروا نه کـــوي
دلتـــه خفـــه رانـــه ریبـــار دی، څنګـــه وکـــم؟
☆☆☆
د اباسیند په غاړه ناست یم لـه تنـــدې مـــرمـــه
وایي خادم نصیب مې خوار دی، څنګه وکـــم؟

کابل. ۴ د حمل ۱۳۴۱. (۳۹)

---

(۱) ځاروان- ۱۱۰ م مخ او – تازه ګلونه – د بختاني ټولونه ۱۳۴۲ کال – په خپله د استاد خادم په لیک

## غزل دري

صمر پست که بشکسته تیر از تو سنان از من
بردند بـه یغمـــای دل از تـو و جـان از مـن
فرزند وطن بشنـو دانـی که چـه مـی خواهـد
گلزار و بهـار از تـو خـونیـن کفنـان از مـن
خواهی که بیـا سـاییـم بـر رفتـه خـود اییـم
تطبـق مـکان از تـو، رفتـار زمـان از مـن
مردانه به پـاخزیـم، باخـود چـه بیـاویزیـم
مفتی به خدا بردنـد ،آب از تـو و نـان از مـن
این زندگی یک طوق است بر گـردن مـا و تـو
بگرفته به یک جادو و تاب ازتو تـوان از مـن

کابل۔ ۱۳۴۳ (۱)

---

(۱) ځاروان ۱۹۷ مخ

## غزل

زسوز عشق داغـی همچـو لالـه خوشتـرم آیـد
زتـاب و درد آن افغـان و نالـه خـوشتـرم آید
طبیب جستم گـوید اختـلاج دل مـرض باشـد
ولی دل گربـود ببتـاب و والـه خـوشتـرم آید
تپش از تـابـش حـر بیـابـان در رهٔ مقصـد
زبزم اندر کـف سـاقـی پیـالـه خـوشتـرم آید
زصد خیل جوان کانان بشمـع دیگـران میـبرند
یکی خود دار پیـر شصـت سـاله خوشتـرم آیـد
ز صوفی عافیت درکنج مسجد گر چه بشنیـدم
ولی برکوه جستن چـون غـزاله خوشتـرم آیـد
پریشان دامن خود را چـو گل تر از نمـی کـردن
زخادم همچو بلبـل آه و نـالـه خـوشتـرم آید

د لیکوال پوښتنو ته
د استاد خادم ځوابونه

(١)

## د ثقیلې یې د شکل په باب

ښاغلي پوه مولانا خادم!
نور لیکوال ثقیله یې که د مؤنث اسم په آخره کښې وي داسې لیکي:
(ی) لکه کړکۍ، څپلۍ، نجلۍ او که د جمع مخاطب فعل په آخره کښې وي نو داسې یې لیکي: (ئ) لکه: لیکئ، وایئ، لولئ.
تاسو په دواړو مواردو کښې یو شکل غوره کړی دی او: (ډوډۍ، خورۍ،) لکۍ، نو که د دواړو صورتونو په شکل کښې فرق موجود وي، دا به ښه نه وي؟

(بختانی)

**ځواب**:

نه! دا به ښه نه وي. ځکه چه دغه (یې) ته تاسو پخپله ثقیله (یې) ویلې ده، نو ددې نه پخپله معلومه شوه چه ثقیله (یې) که په اسم کښې وي او که په فعل کښې هماغه یوه ثقیله (یې) ده. یعنی تلفظ، صوت او آواز یې یو شی دی. نو څه ضرورت دی چه مونږ بلا ضرورته د ابجد خوان

کوچنۍ دپاره د (پټئ) د تورو اشکال نومونه او صورتونه ډېر کړو ؟
زما مدعا دا ده چه ثقيله (يې) د پښتو د پټئ (الف بې) په جمله کښې يو حرف دی چه ځانله اواز لري . ددې دپاره چه زمونږ رسم خط آسان او خوانا شي نو مونږ ورله يو ځانته صورت او شکل غوره کړ چه له معروفې ، مجهولې او ملينه (يې) ځخه وپېژندل شي او صوت يې په خپل آهنګ اداء او ملتبثه نه شي . دا خبره يواځې په ثقيلې (يې) پورې منحصره نه ده ، بلکه د ابجد خوانۍ د ټولو حروفو اشکال ددې دپاره وضع شوي دي چه وپېژندل شي او هم هغسې په خپل آواز اداء کړی شي .
دا خبره چه ځينی خلک يې کوي چه دا صورت : (ی) د تانيث د ثقيلې (يې) دپاره او دا صورت (ئ) د فعل د ثقيلې (يې) دپاره ټاکل شوي دي يوه خبره ده چه په خپله باطله ده . ځکه چه د ابجد خوانۍ د تورو اشکال خالصه په صوتي بنياد ولاړ دي نه په ګرامري فلسفه . ځکه که ګرامري فلسفه مد نظر ونيسو نو يوازې ثقيله (يې) ګنهګاره نه ده ، بلکه معروفه ، مجهوله او ملينه (يې) خو هم په اسم ، فعل ، مفرد او جمعې ، مذکر او مؤنث کښې راځي ، نو هلته ولې متعدد صورتونه نه غوره کېږي ؟ او

که څوک وغواړي چه هلته هم متعدد اشکال د ګرامر په اساس وتراشي هغه به هم دغسې غلطي وي ، لکه د ثقيلې (يې) په مسئله کښې چه ښبنه شوې ده .

(خادم) (۱)

(۱) زيرى ، جريده - پښتو ټولنه - کابل - دوهمه دوره - دريم کال - اوومه ګڼه - د ۱۳۳۳ د سنبلې شلمه - پر له پسې ګڼه : (۱۰۹) - دوهم مخ

(۲)

## د ثقیلې (یې) دشکل په باب
## بله پوښتنه

ښاغلي پوه مولانا خادم!
ته وایې چه د اسم او فعل دپاره ثقیله (یې) باید په یو صورت وي. نو په دغو دوو معمولو صورتونو: (ی، ئ) تاسې په کوم دلیل دا شکل (ئ) غوره کړی دی؟

په احترام
(بختاني)

**ځواب**:

واوره بختانيه روکیه!
معلومېږي چه ته د ثقیلې (یې) په واحد صورت قایل شوی یې، او زما د توحید دلایل ستا په نزد منل شوي دي. که وي نو ووایه! او که نه وي، چه څو یوه خبره فیصله نه شي، نو بله څېړل د ابحاثو خلط دی او دا غلط کار دی.
په هر صورت که زه له دغو خبرو تېر شم او خپله وظیفه اجرا کړم او هغه دا ده چه ستا ځواب ووایم او تا په خپل مرموز حالت لکه نن چه په وطن کښې دا یو سیاست او دانش ګڼل شوی دی، پرېږدم نو واوره زما نظریه دا ده:

اول : ( ی، ) صورت نوی او ( ئ ) پخوانی دی او القدیم یترک علی قدمه .
دوهم : ثقیله ( يې ) کښې طبعاً همزه غوندې پرته ده . ځکه ثقیله ( يې ) هغه ( يې ) ده چه مخکښې حرف ورځخه زورکی ولري ، نو دغه ( يې ) د همزې په صورت اظهار شي دا صورت يې له بل ځخه موزون او بهتر دی .
دریم : د همزې په صورت کښې زمونږ په مطبعه او ابجدخوانۍ او ټایپ باندې نوی حرف یا صورت نه زیاتېږي او دا لویه اقتصادي او فني ګټه ده .
ځلورم : د همزې صورت په پښتونستان یعنی پېښور کښې ډېر پخوا رایج ؤ . او هلته یوازې ثقیله ( يې ) نه بلکه هره هغه ( ه ) چه مخکښې ورځخه زوره کی وي ، هغه يې هم په همزه متمایزه کړې ده ، او یقیناً په رسم الخط کښې دغه تمایز ته مونږ ډېر محتاج یو . لکه ( تۀ ، زۀ ، دۀ ) او داسې نور . نو اطراد بهتر دی له افتراق ځخه .
پنځم : همزه یو حرف دی چه نه حرف علت دی اونه حرف صحیح نو دعلایمو او نښانو دپاره د داسې یو توري استخدامول موزون او معمول کار دی . نه ګورئ په عربئ کښې د جمع مذکر د واو نه وروسته ( الف ) لکي . لکه

(ضربوا او د عمر او عمرو د تفريق دپاره د مفتوح الفاء نه وروسته (واو) ليکي.

بختانيه!

که ته په هره وړه خبره له ما څخه مقالې غواړې او سبا بيا ته وربانديې د مقالې اطلاق نه کوې، نو زما او زما په صحت او اوقاتو به ظلم وکړې. او ستا چل خو هماغه دی چه خپله نظريه پټه ساتې.

په ورور ولئ

خادم (۱)

(۱) هماغه جريده – اتمه ګڼه – د ۱۳۳۳ د سنبلې ۲۷ مه – پر لېسي ګڼه (۱۱۰) څلورم مخ.

## یادښتونه

(۱۰) د دې خبرو لپاره وګورئ:
- خان عبدالغفار خان- زما ژوند او جدوجهد - کابل ۱۳۲۳هـ. ش.
- عبدالله بختانی د سولې او آزادئ قهرمان- کابل ۱۳۲۲ هـ. ش او نور.
(۱۵) د مرغلرو امیل- لومړی مخ
(۱۲) پیتیمو- د قهر او عتاب په وخت کښې ویل کیږي. معنا یې دا ده: شرم، خجالت، ملامتـي یا لعنت دې وي. دا عبارت د پښتو په عامه محاوره کښې شته. د عبدالاکبرخان اکبر په شعرونو کښې هم راغلی دی.
(۱۷) د مرغلرو امیل- ۱۵ مخ.
(۲۱) سرمحقق معتمد شینواری- استاد خادم د شوروي پوهانو په نظر کښې- هیواد ورځپانه پاسنئ ګڼه.
(۳۲) دا نثر اول په راډیو کښې اورول شوی بیا (پښتو متاثره) د پښتو نثرونو مجموعه کښې اخستل شوی ده او وریسې د استاد خادم (خیالي دنیا)- کابل- ۱۳۳۹- ۸- (- مخونو کښې چاپ شوی دی.
(۳۳) اسایش دو ګیتي تفسیر این دو حرف است:
با دوستان مروت با دشمنان مدارا- (حافظ)
(۳۴) قیام الدین خادم- ثاروان- کابل- ۱۳۴۲، ۵- ۷۲ مخونه.
(۳۵) ثاروان- ۲۵- ۲۲ مخونه.
(۳۲) ثاروان- ۱- ۱۲۰ مخونه.
(۳۷) عنوان د «خدمتګار له خوا ورکړ شوی دی.
(۳۸) د مرغلرو امیل- ۸۹- ۹۰- ۹۱ مخونه او ثاروان ۳- ۱۳۰ مخونه.
(۳۹) ثاروان- ۱۱۰ م مخ او- تازه ګلونه- د بختاني تپولونه ۱۳۴۲ کال- پخپله د استاد خادم په لیک.
(۴۰) ثاروان ۱۹۷ مخ.

# د استاد بختاني يو لړ اثار:

## چاپي:

۱ – په اسلام کښې د ښځو حقوق – د مصر د «المنار» د جريدې د مدير رشيد رضا د «الوحي المحمدي» له کتاب څخه ترجمه – د ۱۳۲۷ هـ ش چاپ.

۲ – مصايب الدخان «د تمباکو زيانونه» – د مصر د «الازهر» د استاد سيد محمد عبدالغفار الهاشمي د عربي کتاب ترجمه – ۱۳۳۲ هـ ش چاپ.

۳ – اراده (روحيات) د پروفيسر غلام حسن مجددي له دري ليکنې څخه ترجمه او د اريانا دايرة المعارف يو شمېر نور ارتيکلونه – د ۱۳۳۲ هـ ش چاپ.

۴ – شعر او ادب – د پښتو د معاصر شعر او ادب تيوريکي څېړنه، ټولونه، سريزه او اهتمام د ۱۳۳۳ هـ ش چاپ.

۵ – د زړه راز – د شعرونو لومړئ مجموعه – د ۱۳۳۵ هـ ش چاپ.

۶ – پښتانه د علامه اقبال په نظر کښې – ۱۳۳۵ هـ ش چاپ.

۷ – ميرزا عبدالرحيم رحيمي (احوال و اشعار) بزبان دري – ۱۳۳۵ هـ ش. چاپ مجدد با افزوني ها – ۱۳۸۰ هـ ش.

۸ – پښتني خويونه – ادبي ټولنپوهنيزه څېړنه – ۱۳۳۵ هـ ش چاپ.

۹ – د ملنګ جان خوږې نغمې – ټولونه، سمون، سريزه او ترتيب – ۱۳۳۵ هـ ش.

دوهم چاپ له زياتونو سره – ۱۳۴۸ هـ ش.

۱۰ – خوږې ترخې – د ادبي او انتقادي نثرونو مجموعه – د ۱۳۳۶ هـ ش چاپ.

۱۱ – سیدو ملنګ – موزیکال اصلاحي درام په څلورو پردو کښې. په ننګرهار ننداري کښې ښودنه: ۱۳۳۸ هـ ش – په کابل کښې چاپ ۱۳۴۱ هـ ش.
۱۲ – علمي ازمېښتونه په ساده وسایلو – ساینسي درسي مرستیال – د موریس پارکر لیکنه – د استاد غلام علي آیین له دري لیکنې څخه پښتو ترجمه – ۱۳۴۱ هـ ش.
۱۳ – راز – د شعرونو دوهمه مجموعه – ۱۳۴۲ هـ ش.
۱۴ – پښتو کلي څلورم ټوک – درسي – ۱۳۴۵ هـ ش.
۱۵ – شرنګ د شعرونو دریمه مجموعه – ۱۳۴۲ هـ ش.
۱۶ – معاصر ادیبان – تذکره – ۱۳۴۷ هـ ش.
۱۷ – توریرېښ – د پښتنو تاریخي شفاهي سندرې – ټولونه، ترتیب او سریزه – ۱۳۴۷ هـ ش.
۱۸ – پښتو لنډې کیسې – د لنډو داستانونو مجموعه – ۱۳۴۷ هـ ش.
۱۹ – د خوشحال خان خټک رباعیات – د اکادمیک متن جوړونه – له ملګرو سره – ۱۳۴۹ هـ ش.
۲۰ – د پښتو ټولنې رئیسان او غړي (تذکره) – ۱۳۴۲ هـ ش.
۲۱ – ابر بهاری – د دري شعرونو مجموعه – ۱۳۵۱ هـ ش.
۲۲ – مرغلرې – د ادبي نثرونو مجموعه – ۱۳۵۱ هـ ش.
۲۳ – د پښتو پت – د لنډو داستانونو مجموعه – ۱۳۵۲ هـ ش
۲۴ – د یونس خیبري دیوان – نقل، سمون، سریزه، اکادمیک متن او اهتمام – ۱۳۵۲ هـ ش.
۲۵ – د پادري هیوز کلید افغاني – سریزه، تعلیقات او لغتنامه – ۱۳۵۲ هـ ش.
۲۶ – پښتانه شعراء څلورم ټوک – تذکره – ۱۳۵۷ هـ ش.
د افغانستان سفر له روسي نظم څخه پښتو منظومه ترجمه – ۱۳۵۷ هـ ش.
۲۸ – پښتو چاپي آثار – ټولونه، اوډنه او سریزه – ۱۳۵۷ هـ ش.

۲۹ – د ګلو کر – د شعرونو پنځمه مجموعه – ۱۳۵۹ هـ ش.
۳۰ – شوربې او خوار – له روسي ژبې د انتون چیخوف د داستانونو ترجمه – ۱۳۵۹ هـ ش.
۳۱ – د زړه آواز – د شعرونو انتخابي مجموعه ۱۳۲۳ هـ ش.
۳۲ – شفق – د شعرونو مجموعه – ۱۳۲۳ هـ ش.
۳۳ – تذکرة الشعراء – تدوین، سریزه او حواشي – ۱۳۲۳ هـ ش.
۳۴ – د باچاخان لیکونه لومړی ټوک – ټولونه، اوډنه، سریزه او حواشي – ۱۳۲۳ هـ ش.
۳۵ – زمونږ وطن د جرګو وطن – تاریخي – ۱۳۲۴ هـ ش.
۳۶ – د سولې اواز ادیٔ قهرمان خان عبدالغفار خان – تذکره – ۱۳۲۲ هـ ش.
۳۷ – د بابا مشالونه – د باچا خان وجیزې – انتخاب، ټولونه او سریزه – ۱۳۲۲ هـ ش.
۳۸ – د اخلاص هدیه – د خان عبدالغفار خان په باره کښې شعرونه – ټولونه، اوډنه او سریزه – ۱۳۲۲ هـ ش.
۳۹ – د سولې او تفاهم د لیارې مبلغ دوکتور سعید افغاني – تذکره – ۱۳۲۲ هـ ش.
۴۰ – پښتانه شعراء پنځم ټوک – تذکره – ۱۳۲۷ هـ ش.
۴۱ – سوله او سلام د اسلام په رڼا کښې – دیني څېړنه – ۱۳۲۷ – هـ ش.
۴۲ – د خان عبدالغفار خان اندونه او انځورونه – ټولونه، اوډنه او سریزه – ۱۳۲۸ هـ ش.
۴۳ – د پاکستان اسلامي ماهیت... – تاریخي – ۱۳۲۸ هـ ش
۴۴ – د ملي ادب او ژورنالیزم خادم – د استاد قیام الدین خادم تذکره – ۱۳۲۸ هـ ش. دوهم چاپ ۱۳۸۲ هـ ش ، دریم چاپ همدا کتاب
۴۵ – فراقنامه – منظومه – ۱۳۷۸ هـ ش.

۴۲ – زما استاد الفت – تذکره او ادب څېړنه – ۱۳۸۰هـ ش.
۴۷ – خوشحال خان او یو ځو فرهنګیالي ختېک – تذکره او ادب څېړنه – ۱۳۸۰ هـ ش.
۴۸ – ادبي سوغات – ټولونه، سریزه او حواشي –۱۳۸۱ هـ ش.
۴۹ – ګلنامه – بولـله – ۱۳۸۱ هـ ش.
۵۰ – د ملـي ادب او ژورنـالېزم یـو هېـر شـوی خـدمتګار شـمس الـدین قلعتېکی – تذکره – ۱۳۸ هـ ش.
۵۱ – ترنم دل – مجموعه اشعار دری – ۱۳۸۱ هـ ش.
۵۲ – ویرنې – د شعرونو مجموعه – ۱۳۸۱ هـ ش.
۵۳ – خدمتګار د فقیرخېل په کتب خانه کښې – خاطرې او څېړنې – ۱۳۸۲ هـ ش.
۵۴ – د علم قراء ت ضابطه (تجوید) – ضبط – ثبت – سریزه او اهتمام – ۱۳۸۳ هـ ش.
۵۵ – د قران شریف څینې خطي نسخې – تجویدونه، تفسیرونه، مفسران او مدرسې – ۱۳۸۳ هـ ش.
۵۲ – د بیاض دیوان – نقل سمون، حاشیې، او سریزه (اکادمیک متن) – ۱۳۸۳ هـ ش.
۵۷ – زه، ملنګ جان او خوږې نغمې – تذکره او خاطرې – ۱۳۸۳ هـ ش.
۵۸ – د باچاخان لیکونه دوهم ټوک – ټولونه، اوډنه، سریزه او حواشي – ۱۳۸۴ هـ ش.
۵۹ – بشریت مجبور و رنجور در آستانه هزارهٔ سوم میلادی – اجتماعي – سیاسي – ۱۳۸۴ هـ ش.
۲۰ – پښتو پالنه او ژب څېړنه – ۱۳۸۴ هـ ش.
۲۱ – حماسه ویونکی مبارز شاعر اجمل ختېک – ابدیت، سریزه او اهتمام – ۱۳۸۴هـ ش.
۲۲ – د سید جمال الدین افغان د ژوندانه هدف – ۱۳۸۵هـ ش.

۲۳ – د هیلې د هیلۍ سپین وزر – بدیعي ترجمې – ۱۳۸۲ هـ ش.
۲۴ – د دین ستوري مولانا نجم الدین د هډې اخونزاده – ۱۳۸۲ هـ ش.
۲۵ – تازه ګلونه – د معاصرو شاعرانو د شعرونو انتخابي مجموعه – انتخاب، ټولونه، سمون، اوډنه او اهتمام ـ (چاپ لاندې).
۲۶ – د سپین غره په لمنو کښې – سیاسي، ټولنیزې لیکنې – ۱۳۸۲ هـ ش.
۲۷ – د کوشاني دورې خیښې یاد ګارونه – تاریخي، لرغون پوهنه. (چاپ لاندې).

## ناچاپ

۲۸ – د ګلکخونو په ارمان – د څلوریزو مجموعه.
۲۹ – اقبال، افغان او افغانستان.
۷۰ – فخر افغان او افغانستان.
۷۱ – د نارنج بهار – تاریخي، ادبي، څېړنیز او طبي.
۷۲ – د مرغلرو لټون – ادب څېړنه.
۷۳ – د ستورو انجمن – ادبي څېرې او څېړنې.
۷۴ – د کتابو کتنه – ببلوګرافي.
۷۵ – پښتانه شعراء شپږم ټوک – تذکره.
۷۶ – پښتانه شعراء اوم ټوک – تذکره.
۷۷ – تذکره نویسئ معاصر به ارتباط شعر دری افغانستان.
۷۸ – دیوان خلیفه قاسم قاسمي چهارباغی – نقل، تنقیح، مقدمه و تعلیقات.
۷۹ – در ګستره ادب دري ، پژوهشهای ادبی.
۸۰ – د ملي شاعر ژوند او هنر (د ملنګ جان په باره کښې).
۸۱ – رنګین غوندې عذاب – د اجمل ختک ژوند او فن.

۸۲ – د خدمتګار طبي لیکنې.
۸۳ – د هېواد د بیا رغولو په هیله – ټولنیزې سیاسي لیکنې.
۸۴ – د احمد ګل شاعري.
۸۵ – د ملک نعیم سندرې.
۸۶ – د بینا د ورو لوبې.
۸۷ – یو دوه ګوتې کاغذ – د خدمتګار مکاتیب.
۸۸ – د خاطراتو دفتر.
۸۹ – افغانستان – د شعرونو مجموعه.
۹۰ – تشدد او نفرت – ځلوریزې.
۹۱ – د زړه زخمونه – بولله.
۹۲ – د خدمتګار د اشعارو کلیات.
۹۳ – د میراث ضابطه – فقهي.
۹۴ – د خدمتګار مرکې.
۹۵ – د حج د سفر ځینې خاطرې (کار لاندې).
۹۶ – ویښ زلمیان – (کار لاندې).
۹۷ – د شوروي اتحاد سفر.
۹۸ – یوه هفته په اوزبکستان کښې.
۹۹ – د چکوسلواکیا او پولینډ سفر.
۱۰۰ – د عراق سفر.
۱۰۱ – د بن سفر.
۱۰۲ – چکچستان زنده باد ! (خاطرې).
۱۰۳ – د خدمتګار د کتابخونې خطي او نادرې نسخې – ببلیو ګرافي (د کار لاندې)
۱۰۴ – شجره پیر پټیان، ترتیب غلام حبیب نوابي ، تصحیح مقدمه او اهتمام ۱۳۸۶ .

۱۰۵ - پیرافغانان – د حکیم الله تصور لیکنه - سمون ، سریزه او اهتمام ۱۳۸۷ هـ ش.
(د ناچاپو د چاپ لپاره د ادب د مئینانو د مرستې په هیله. خدمتګار)

په کتاب کښې ټول عکسونه د استاد مولانا خادم د کورني البوم څخه اخستل شوي ، چه د خادم صاحب د لور حفیظه ((خادم)) په وسیله ساتلي او رالیږل شوي دي . زه ورنه مننه کووم